# جنتي سیند

ساده حیدرخیل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ځکه په سُجود یمه په ځان کې
چې خبر دې له وجود یمه په ځان کې

ستا وصال مې امتیاز د پیدا ښت دی
بس په دې ټکي مسعود یمه په ځان کې

نیمګړتیاوې مې په ګوتو نه پټېږي
پوهېدلی په کمبود یمه په ځان کې

یو صوفي بل مې مُلا په چاربندو کړو
ستا د شان هسې نَمود یمه په ځان کې

که بنده ساده د رب ومه نو بیا خو
زه له هر څه نه بهبود یمه په ځان کې.

۱۳۹۰/۰۵/۲۰
یوولسم پېشمنی / حیدرآباد / خوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـا کــه ومانــه پيغــام د محمــد (ص)
نــو حاصــل يــې کــړو انعــام د محمــد (ص)

خدايه ! تـه يې کړې پـه خوب کې را حضـور
چــې کــلام مــې شــي کــلام د محمــد (ص)

که څوک غواړي چې روغ تېر شي پر صراط
گــام دې کېــږدي خــو پــر گــام د محمــد (ص)

دا غـــزل دی رهنمـــا د هـــر ســـړي
چــې مــې وليکــه پــه نــام د محمــد (ص)

کــه څــوک تمــه د بخشــش لــري ســاده
نـــو کـــوي دې احتـــرام د محمـــد (ص).

۱۳۸۴/۰۹/۲۷
حيدرآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وسپنې له زړونو آيينې جوړوم زه
د شيخ که اجازه وي ميخانې جوړوم زه

د ښکليو د مخونو مې تل کړی تلاوت
له تورو تورو سترګو يې تسپې جوړوم زه

د ترږو لاروېو چې پرې جوړه وي دمه
د ژوند په لويه دښته کې چينې جوړوم زه

په غوږ کې يې ويلي راته پټ دي انا الحق
د مينې له منصوره فلسفې جوړوم زه

په زغرده خولګۍ غواړم له هغې ځنې ساده
تر څو پورې به چل ول او پلمې جوړوم زه.

۱۳۸۴/۰۹/۰۸
حيدآرباد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هجر لویه شپه ده اسویلی مې خولې ته راغی
څه ستړی ستړی کېږمه زړګی مې خولې ته راغی

چې سترګې د ښولاندې ساقي کړلې راپورته
په خوله مې ګوتې کېښولې غورزی مې خولې ته راغی

د سوي زړه حالات مې ورلېږل چې لږ خو راشي
ریبار مې رابللو خو لالی مې خولې ته راغی

د ښکلو له ستمه مې فریاد کله منلو
خو کله چې ستې شومه زګروی مې خولې ته راغی

لا تېرې د خزان سپېرې سېلۍ نه وې ملګرو
ساده ورته حیران یمه سپرلی مې خولې ته راغی.

۱۳۸۴/۰۹/۰۸
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار مې د مینې په خبرو باندې روږدی کړمه
لکه ماشوم یې په شکرو باندې روږدی کړمه

فکر مې نه وي رانه وشي چې عادت مې نه شي
رقیب د ځان سره په غورو باندې روږدی کړمه

ټوکرۍ مې تشه شوه ورځم چې راته ډکه یې کړي
ډېریې بې وخته په گورگورو باندې روږدی کړمه

سپینه وینا د هر سړي په وړاندې خوند راکوي
خدای(ج) زورور په زورورو باندې روږدی کړمه

د پاکې مینې د بېلتون شیبې اوږدې وي ساده
په نیمو شپو کې یې سندرو باندې روږدی کړمه.

۱۳۸۴/۰۹/۲۷
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چـا لـــه ســـترګو نـــه ګنـا ښـــا ښــکاري
د چـا لـــه ســـترګو نـــه حیـا ښـــا ښــکاري

ښـــه بـــه صـــفت د هغـــې مـــخ کومـــه
شـــیدې خـــو پربــــږده تــــرې رڼـا ښـــا ښــکاري

زخـــم د زړه مـــې پـــرون وګنـــډلو
لکـــه زړه کوټـــه نـــن بیـــا ښـــا ښــکاري

شـــونډې یـــې ســـل واره تـــر شـــاتو خـــوږې
لـــه نرمـــې ژبـــې یـــې رښـــتیا ښـــا ښــکاري

شـــکر پـــه دې ســـاده چـــې ووري پـــر دوی
د دوی لـــه مخـــه هـــم پـــر تـــا ښـــا ښــکاري.

۱۳۸۴/۱۰/۲۰
دلوی اخترلومړۍ ورځ ،حیدرآباد.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــړ پـــه خبـــره پوهـــول پکـــار دي
د وخـت رندو تـه ځو غـزل پکـار دي

د زړونو هار دې که پکار وي نو بيا
مـوږ تـه تارونـه د اوربـل پکـار دي

بې روحه نه يوو د لاشونو پـه شـان
څـــه بـــدلول خـــو د ازل پکـــار دي

خلک غرقېږي د پيسو پـه سيند کـې
د خوبولـــو ويښـــول پکـــار دي

د يـار نامـه چـې اخيسـتلی نـه شـو
پــه دې حـالاتـو هـم ژړل پکـار دي

ويـــره لـــه نرخـــه د وتـــو ده ســـاده
کنــه لــه کلــي نــه وتــل پکــار دي.

۱۳۸۴/۱۰/۲۴
حيدرآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

گورمــه هنــداره کړلېچونــو کــې
ویــنم دې نگــاره کړلېچونــو کــې

اېخوا دېخوا تللی نه شم له ویرې نه
ناســت یمــه لــه ډاره کړلېچونــو کــې

زور د مزلونـــو مـــې اوبـــه اوبـــه
لــرې یــم لــه ښــاره کړلېچونــو کــې

یــار د محبــت د غرونــو شــا تــه دی
اوړي ځکــه لاره کړلېچونـــو کـــې

خلاص به دې ساده له غمه نه شي بیا
پــام کــوه ســالاره کړلېچونــو کــې.

۱۳۸۴/۱۰/۲۷
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړی - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځـــان د پېژنـــدلو وســـيله ورســـره نشـــته
د بيــا ژونــدي کېــدلو عقيــده ورســره نشــته

مــنم چــې د زړګــي خونــه يــې تشــه تــوره نــه ده
شيطان ورسره شته خو پرېښتـه ورسره نشتـه

زاهــد لــه ميکــدې ځنــي راووتــو روان شــو
حيـران ورتـه پـه دې يمـه پيالـه ورسـره نشـته

د ژونـد د اخيسـتلو طريقـه يـې ده پـه لاس کـې
د ژونــد د ورکولــو طريقــه ورســره نشــته

په قهر د ساده په مخکې تېر شوې خورقيبه !
نصيب دې زورور دی چې لېنده ورسره نشته.

۱۳۸۴/۱۱/۱۲
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره پوهېږمه چې نه پوهېږم
ځکه ژاړېږمه چې نه پوهېږم

په دې پوهېږمه چې نه پوهېږم
ولې غږېږمه چې نه پوهېږم

ځوانه ځوانۍ کې د بوډا غوندې یم
دې ته ځورېږمه چې نه پوهېږم

د ځان په اړه ترې پوښتنه کوم
څه له شرمېږمه چې نه پوهېږم

لا چې معلومه راته نه ده ساده
لا به سترېږمه چې نه پوهېږم.

۱۳۸۴/۰۱/۱۵
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په سترګو کې ښکارېږي د زړه کاڼي
ته به وایې ترې نه ښه دي د غره کاڼي

ما ګلاب درته د مینې په نوم راوړ !
تا په لاس کې دي اخیستي په څه کاڼي؟

نه دوستي نه دوښمني راته پکار ده
نه زړګی له چانه غواړمه، نه کاڼي

ګرانه یاره اجازه د بوسې راکړه
چې په مینه دې نن ښکل کړم د وره کاڼي

چا چې نوم د محبت دلته اخیستی
لګېدلي یې پر سر د پنځه کاڼي

د هجران له سخته غمه ساده ژاړم
ما خوړلي پر ټټر دي د ده کاڼي.

۱۳۸۴/۰۳/۱۱
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمانونــــه مـــې ډوبېـــږي پـــه اوبـــو کـــې
لکـــه لـــوټې اوبـــه کېـــږي پـــه اوبـــو کـــې

بـــې لـــه هجـــره پـــه وصـــال کـــې مـــرګ د مینـــې
ګـــل تـــه ګـــوره چـــې تـــویېږي پـــه اوبـــو کـــې

د نـــاپوهو پـــه مجلـــس کـــې مـــې شـــعرونه
ماشـــومان دي چـــې مـــړه کېـــږي پـــه اوبـــو کـــې

اننګـــي یـــې پـــه چپنـــه کـــې وربښـــکاره شـــول
ځراغونـــه هـــم بلېـــږي پـــه اوبـــو کـــې

ستا پـه ځنګ کې ساده هسې رنګ خوشال وي
لکـــه شـــولې چـــې ســـتړېږي پـــه اوبـــو کـــې.

۱۳۸۵/۰۳/۱۵
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېـــره شـــوې مــــې د ســـتورو شـــاعري ده
اوس راپـــاتې تـــش د تـــورو شـــاعري ده

د ښـــكلا ملكـــې زړونـــه پـــه زور يـــوووړل
بـــس پـــه برخـــه د كمـــزورو شـــاعري ده

د دوښمن كوپړۍ يې راوړې په خورجين كې
ثـــه بـــاتوره د بـــاتورو شـــاعري ده

د ژونـــدون پـــه تېرولـــو كـــې ولاړ دي
رټـــه[1] شـــوې لـــه ســـرزورو شـــاعري ده

د ابلـــيس پـــه پلـــه روان دي ســـاده گـــوره
ثـــه بدرنگـــه د مغـــرورو شـــاعري ده.

۱۳۸۵/۰۳/۲۱
حيدرآباد

(۱) رټه: سخته، ورانه،مشكله، خرابه.

www.ketabton.com - د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناصحه وار وکه د یار سره خبره کوم
لېر انتظار وکه د یار سره خبره کوم

زموږ په منځ کې د دیوال په شاني مه رادرومه
لرې شه لار وکه د یار سره خبره کوم

مینه د یار هم د خدای(ج) مینه ده خبر یې کنه
په دې اقرار وکه د یار سره خبره کوم

د دهر غمه ! لږ مې خپلې زندګۍ ته پرېږده
شپه په بازار وکه د یار سره خبره کوم

له ما ساده سړي نه څه غواړې ریباره ورشه
غږ په اغیار وکه د یار سره خبره کوم.

۱۳۸۵/۰۳/۲۲
حیدرآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشتیاق چې ډېر سېوا شي
لېونتوب ترې نه پیدا شي

انتها د مینې دا ده
چې مجنون پکې لیلا شي

هر عاشق لکه ماشوم وي
په ژړا کې په خندا شي

راشه غوټه مې غوړۍ کړه
که څه حق دې پرې ادا شي

خوږ اشنا خو د ساده دی
خو ساده که د اشنا شي.

۱۳۸۵/۰۴/۰۲
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مــې داســې لــه دلبــره رڼــا اخلــي
لکــه ســتورى چــې لــه لمــره رڼــا اخلــي

لــه آدمــه تــر دې دمــه جينــۍ گــوره
کمــه نــه ده خــو لــه نــره رڼــا اخلــي

د ســاقي زړگــى چېنــه لــه نــوره ډکــه
ميخــوران يــې لــه نظــره رڼــا اخلــي

پــه اوبــو کــې يــې ســپوږمۍ لامبــو وهينــه
مــين ځکــه لــه گــودره رڼــا اخلــي

د جانــان د رانــه مــخ پــه تصــور کــې
ســاده تــل لــه خپــل هنــره رڼــا اخلــي.

۱۳۸۵/۰۴/۰۲
حيدرآباد

د مــازديگر پــه تمــه نا ســت يمــه زه
ســتا د نظــر پــه تمــه نا ســت يمــه زه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د حالاتو سمندر شو لو مست
د قلندر په تمه ناست یمه زه

یوه بوسه راکړه په بیه د سر
د دې کوثر په تمه ناست یمه زه

چې د دوښمن پر اوږو واړوي جغ
د داسې نر په تمه ناست یمه زه

اخېر به رسمه زړګي ته د یار
د خپل هنر په تمه ناست یمه زه

ریبار به راشي څه به راوړي ساده
د پیغمبر په تمه ناست یمه زه.

۱۳۸۵/۰۴/۲۸
حیدرآباد

ځان به څنګه سره ګلاب ته رسومه؟
دا پوښتنه به ځواب ته رسومه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې سپین شو د دنیا له ډېره غمه
دغه ستوری به مهتاب ته رسومه

د ضمیر په پاچاهۍ کې مې فکرونه
په سندرو انقلاب ته رسومه

په ډیوه کې به د زړه وینې هم توی کړم
شپه د هجر به افتاب ته رسومه

وچې وچې د ساده د نظر شونډې
ستا د ښکلي مخ کتاب ته رسومه.

۱۳۸۵/۰۴/۲۸
حیدرآباد

مینه کوي مګر دلبر نه لري
په دغه کار کې پیغمبر نه لري

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایله چې زړه وربانديې خوږ شي د چا
دومره په سترګو کې اثر نه لري

په هره شپه پسې سحر وي ضرور
زموږ‌ه شپه ولې سحر نه لري

دا برکت د پرمختګ دی زموږ !
ژنې جومات پېغلې ګودر نه لري

شیطان بې غمه پکې ګرځي آزاد
د چا د زړه کلا چې ور نه لري

مزل په سمه ورته ګران شي بیخي
د عشق په لارکې چې رهبر نه لري

سرې به کړی لا پخوا وی الوت
له دغې چمه خو وزر نه لري

لومړی به جام د محبت وي د دوی
هلته چې څوک پر اوږو سر نه لري

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړا رادرومې د پاچا پر احوال [۱]
داسې پاچا دی چې عسکر نه لري

اغيار ملګری د رقيب دی ساده
د آيينې شا ته جوهر نه لري.

۱۳۸۵/۰۴/۲۹
حيدرآباد

(۱) : په دې وختونو کې د کرزي ساتونکي عسکر هم بهرنيان و.

چې مې تا ته کله هيله شي ملګريه !
هغه هيله مې نهيله شي ملګريه !

هر بې کيلې [۱] که په کيله کې داخل شي
د ژوند چارې به په کيله شي ملګريه !

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې څه کړې واړه ښه کړې واړه ښه کړې
خــو ګيلــه راتــه طحويلــه شــي ملګريــه !

څــوک د مينــې بــدل نــه غــواړي لــه چــا نــه
يــاري ورانــه لــه بديلــه شــي ملګريــه !

د کعبـــې د ورانولـــو پـــه نيـــت راشـــي
خــو نيمګــړې يــې لــه فيلــه شــي ملګريــه !

د ســاده لــه زړه نــه، نــه وځــې خبــر شــه
فاصلــه کــه پــه زر ميلــه شــي ملګريــه !

۱۳۸۵/۰۴/۳۰
حيدرآباد

(۱) کيله: زموږ په لهجه کې ليکې ـ کرښې ته وايې.

ستا د سترګو ميکدې ته سړی لاړشي
لکــه هوبهــو کعبــې تــه ســړی لاړشــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـا منـي سـبا بـه تـا تـه هـم در درومـي
خدايـه ځنګـه بُتخـانې تـه سـړی لاړشـي

که د سرو زرو محل کې يې ژوندون وي
خـو اخېـر بـه هـديرې تـه سـړی لاړشـي

د دنيـا وفـا دې خپلـه کـړي ور يـاده
چـې د مـړي جنـازې تــه سـړی لاړشـي

د جانـــان پـــه يـــادولو ســـاده ګـــوره
هـديرې يـا جېلخـانې تـه سـړی لاړشـي.

۱۳۸۵/۰۴/۳۷
حيدرآباد

پرا تـــه پکـــې د راز يـــوه خبـــره ده جانانـــه
د ســـوي زړګـــي چيغـــه مـــې ســـندره ده جانانـــه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه دم دی نــه تعــویز او نــه بنــدی، د کــوم کــوډگر ده
پــه غــاړه مــې د ســتا د نــامې زغــره ده جانانــه

بقــا د خپلــې مینــې بــه مــدام لــه خدایــه غــواړو
زمانــــه ډېــــره کــــوډگره جــــادوگره ده جانانــــه

ایله راته په سترگو کې مسکی مسکی مسکی شه
رقیــب راســره کــړې ســخته غــوره ده جانانــه

دنیــا بــه ســتا لــه مخــه ســاده وگــوري پــه ځــان کــې
راڅــه چــې آیینــه یــې بــې جــوهره ده جانانــه.

۱۳۸۵/۰۵/۰۴
ځړبنی / خوست

* * *

د بــې نیــازه یــار لــه وجــې یــم بــې نیــازه
ســتا پــه نــاز بانــدې پوهېږمــه غمــازه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو څو شېبو لپاره به هم ورک شي؟
که تر مرگ به را سره يې سوزگدازه!

دا خو ستا د لېونۍ مينې اثر دی
په هر ځای کې چې لگيا ومه بې سازه

که هر څو دې پټوم کله پټېږي
ولې ولې څرگند ېږي پټه رازه

زړه مې ستا له ډېره غمه مرغزی شو
د پرهر خوله يې نيولې مدام وازه

خپل منزل ته په هوا ساده روان دی
هم په ويښه هم په خوب کې بې پروازه.

۱۳۸۵/۰۵/۰۴
د صاحب گل فرهاد هجره / کتہا سري کلی / خوست.

زه پوهېږم چې مين د ستا دروېش دی
خو زړگی يې په تحفه کې درته پېش دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چې سترګې کړې را پورته رقیب راغی
خدای(ج) دې خیر کړې د ازل د برخو وېش دی

له دانې نه سر د ونې را څرګند شو
راوتلی یې له ځمکې څخه نېش[1] دی

زه به خود وم په مینو کې وتلی
چې په ښکلو باندې تېر د هغې شېش[2] دی

د ساده اشنا ته ورشه ای ربیاره !
ورته وایه چې په سوچ کې دې همېش دی.

۱۳۸۵/۰۵/۴
حیدرآباد

(۱) اصل لیکنی بڼه یې په ښین سره ( نېښ ) ده خو د قافیې داړتیاله مخې په پورتنی بڼه لیکل شوی؛ هیله ده چې د لوستونکو به ورته پام شي.
(۲) شېش: زموږ د لهجې ویوکی دی چې دغه ماناوې لري؛ جرت، روب او دبدبه.

په څه کار پسې مې تلی د زړه باز دی
له ګوګله مې وتلی د زړه باز دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنیا لـومې یـې پښـې وزر مـات کـړې
لـه هـر چـا یـې چـې نیـولی د زړه بـازدی

ســتا د حســن د مرغیــو لارې څــاري
پــه هــوا کــې دربــدلی د زړه بــازدی

چې په کار کې دې پکار نه شي ملګریـه !
بیـا دې څـه لـره سـاتلی د زړه بـازدی

د مقصـد عنقـا بـه ژر سـاده تـه راوړي
تـر اسـمانه یـې ختلـی د زړه بـازدی.

۱۳۸۵/۰۵/۰۹
حیدرآباد

د مینــې پــه خبــره بانــدې ژر ســړی پــوهېږي
جانـان چـې مـرور شـي پـه دې هـر سـړی پـوهېږي

د پښتو کتابونو پر لیکه نړی - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرو په مثال دی زړه خوندي ساته په زړه کې
د زرو پــه قيمـت بانـدې زرگـر سـړی پـوهېږي

د راز و نيـاز خبـره هـر سـړي تـه د يـار مـه کـړه
د مينـې پـه رازونـو پيغمبـر سـړی پـوهېږي

د وخت په سمندر پسې يې راولـئ مستي کړي
پــه دې ډول کـــارونو قلنـــدر ســـړی پـــوهېږي

د فــن د نېرنگـی بـه مـې تاييـد پخپلـه وکـړي
ايلـه بيلـه کـه لشـکي پـه هنـر سـړی پـوهېږي

د ښـځې پـه کـارونو کـې د ښـځې پوهـه ډېـره
د نـر سـړي پـه کـار کې سـاده نـر سـړی پـوهېږي.

۱۳۸۵/۰۵/۱۰
حيدرآباد

نـــن مـــې هـــر يـــو د اروا پـــر اوږو بـــار دی
کــه رقيـب دی کــه غمـاز دی کـه اغيـار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پـه دا بـه يې سـوری زړگی دوربـين شي
چې خـوړلی يـې پـه زړه د مينـې خـار دی

ستـا لـه سترگو نـه مې واړه لـرې باسـي
که مې کور دی که مې کلی کـه مې ښار دی

د مجـــاز و حقيقـــت تـــه حيرانېــــږم
پـه انکـار کې يې راغلـی پـټ اقـرار دی

اوس پـه خلکـو کې د ستـا پـه نـوم يـاد ږي
ستـا سـاده د ستـا سـاده دی د ستـا يـار دی.

۱۳۸۵/۰۵/۱۰
حيدرآباد

پـه هــر دم کې اشــارې راکــوې تــه
کلــه ورځـې کلــه شـپې راکــوې تــه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به هم شمه له دوه جهانه تېر
که د شونډو دوې پیالې راکوې ته

چې راوګورې او به شمه او به
مخ چې واړوې لمبې راکوې ته

په وړوکي دنیاګۍ کې مې د زړه
لویې لویې ننداري راکوې ته

پکې وینمه رڼا رڼا رڼا
چې د اوښکو څو ډېوې راکوې ته

په یو شعر کې وي رانغښتې د ساده
که کتاب د فلسفې راکوې ته.

۱۳۸۵/۰۵/۱۱
حیدرآباد

ستا د سترګو له ساقیه قربانېږم
اشاره وکړه لالیه قربانېږم

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر سهار له مرگه بېرته راژوندی شم
هر ماښام له ماښامیه قربانېږم

د ستا نوم چې راته واخلي پسې تښتم
له جینۍ او له ژړکیه قربانېږم

د وصال په سببونو کې حساب دي
له گودره له منگیه قربانېږم

بوی د زلفو رنگ د شونډو یې اخیستی
له گلونو له سپرلیه قربانېږم

ستا په مینه کې غمی د سلیمان شو
د ساده زړه له غمیه قربانېږم.

۱۳۸۵/۰۵/۱۳
حیدرآباد

نشه نشه د مینې بنگې نشته
سپینه غړۍ د هغې دنگې نشته

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ځواني د يار چې خدای(ج) ته رسي
ونې به وي خو دومره دنګې نشته

هره جينۍ د خپل عاشق معشوقه
زما په فکر کې بد رنګې نشته

کېسې د يار دي چې رقيب ته يې کړم
زما خبرو کې خود رنګي نشته

دا خو دستور دی چې سړی شي ملنګ !
ګنې نو چاوې؟ چې ملنګې نشته؟

لکه شاعر يې چې له خدايه غواړي
دلته ساده نو دومره چنګې نشته.

۱۳۸۵/۰۲/۰۷
حيدرآباد

چې ستا په ياد باندې لګيا شي زړګی
له خپله ځانه هم وريا شي زړګی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله ساقي کله مُلا شي زړګی
کله مین کله اشنا شي زړګی

لکه په خوب کې چې الوت وکړي څوک
ستا په لېدو مې په هوا شي زړګی

د ستا د سترګو تصور کې اشنا
له ډېرې مینې په ګدا شي زړګی

باران چې ووري ځمکه مینځي ساده
په ډېرو اوښکو هم صفا شي زړګی.

۱۳۸۵/۰۲/۱۷
حیدرآباد

کله زه شي کله ته شي کله دی شي
دا نازونه د یار کله سړی وړی شي

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلتــون لــه ســختـه غمــه ســړی گــوره
یــا ملنــگ شــي یــا شــاعر یــا لېــونی شــي

بیــا د غــره ســوری کــول ورتــه اســان وي
چې پــه زړه بانــدې سـړی سـوری سـوری شـي

کلــی کــور بــه ســړی پرېــږدي لــرې لــرې
خــو ملگــرو څــوک جانــان کلــه پرېښــوی شــي

پــه دې کــار کــې هــېڅ ریــا د رشــتې نشــته
پردی خپل شي خپل پـه مینه کـې پـردی شـي

دا نـــړۍ تنکـــۍ غـــوټۍ د ســـره گـــلاب ده
خــو پــه لاس کــې د ســاده غریــب ازغــی شــي.

۱۳۸۵/۰۶/۲۲
حیدرآباد

چــې اشــنا زمــا ترڅنــگ نــه وي ملگــرو !
هغــه ورځ د ورځ پــه رنــگ نــه وي ملگــرو !

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روغ زړه د عاشقۍ خبرې نه شي
چې خوړلی يې خدنګ نه وي ملګرو !

مخ د يار به مخامخ پکې ښکاريږي
که هنداره د چا زنګ نه وي ملګرو !

بې تاثيره به له شعره پاتې نه شي
په سينه کې يې که سنګ نه وي ملګرو !

د ساده په خبر به پاتې وي په لارکې
په کوم چا کې چې غورځنګ نه وي ملګرو !

۱۳۸۵/۰۲/۲۹
دوه سرکه - حيدرخېل ـ خوست.

ستا د راتلو په انتظار کې ګوښې ناست يمه زه
لکه ملنګ په لويه لار کې ګوښې ناست يمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د بازار غوندې په راکړه ورکړه ګرم وي، خو
پرته له تا د ژوند بازار کې ګوښې ناست يمه زه

د ګل پر پاڼه د شبنم سترګې څلورشوې څلور
د ارمانونو په ګلزار کې ګوښې ناست يمه زه

زما د زړه په آيينه کې به يې مخ ته کتل
نن يې په کلي او ديار کې ګوښې ناست يمه زه

د شا شهيد د نادرخان تپې په خوا کې ساده
د څو يارانو په بنډار کې ګوښې ناست نمه زه.

۱۳۸۵/۰۷/۲۷
۲۷م پېشمنی / د شاه شهيد زيارت ترڅنګ / کابل.

د ګل ګوزار مې هم پېرزو نه شي په تا جانانه
اظهار د مينې رانه پاتې دی په دا جانانه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خو پوهېږې چې رقيب غماز بيدار وي مدام
د گلـــو ورېم شـــه رادومـــه پـــه هـــوا جانانـــه

د محبت رازونه پټ ساتلی نه شي هېڅوک
پـروا يـې مـه کـړه کـه خبـره شـي دنيـا جانانـه

راځه چې غـره تـه شو پـه منډه منډه منډه روان
تـــو پيـر ورک شـــوی د روا و نـــاروا جانانـــه

ساده لـه ډېرې رنگينـۍ نـه ساده شوی دی بيا
د ستا پـه نوم باندې سندرې وايـي بيـا جانانـه.

۱۳۸۵/۰۸/۰۵
حيدرآباد

له خپـل ځانـه پـه هجـرت کـې يـم جانانـه
ســتا د ســترگو مملکـت کـې يـم جانانـه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور له هر څه نه آزاد يمه خو تا ته
بندي شوی په حاجت کې يم جانانه

نه د مال په څه خبره باندې اړ يم
نه د ژوند په ضرورت کې يم جانانه

ستا د عشق په توره مړ او نه ژوندی يم
نه ولاړ نه په رحلت کې يم جانانه

ما ساده درسره بوڅه چې آزاد شم
د صورت په ايسارت کې يم جانانه.

۱۳۸۵/۰۹/۱۷
حيدرآباد

تا ته در وګورم نظر او به کړم
ژوند مې د مينې پر ګودر او به کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخېر لــه چـا نــه ګيلــه وکـړي ســړی
د سـپيني واورې غونډې لمر اوبه کړم

تنـــدې اخيســـتي د پرديـــو کلتـــور
زه بــه کابــل کــه پېښــور اوبــه کــړم

بـــاران بـــاران شـــه راورېـــږه پـــر مـــا
چـــې د ارمـــان پتـــې مـــې ژر اوبـــه کـــړم

پرېږده چې ورک شم د وريځـې غونډې
پرېـږده چـې تـږی سـمندر اوبـه کـړم

کـه لـږ مـې پرېږدي رنګينـی تـه ساده
درســته نــړۍ بــه پــه هنــر اوبــه کــړم.

۱۳۸۵/۰۹/۲۲
حیدرآباد

تـــاوان لرمـــه مګـــر ســـود نـــه لـــرم
لا واکمنـــي پـــه خپـــل وجـــود نـــه لـــرم

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د نظر کموالی ډېر دی اشنا
پرته له دې نه بل کمبود نه لرم

ژوندون په کلي کې بیا ثله کوم
د قام لپاره چې بهبود نه لرم

زما سېنه به هم کېندلې وی چا
شکر چې غر نه یم زمرود نه لرم

کانې د ټن د غره[1] ترې ښه دی ساده
تندی که یار ته په سُجود نه لرم.

۱۳۸۵/۰۹/۲۲
حیدرآباد

(۱) ټن : یو غر نومېږي چې زموږ د کلي شمال لور ته پروت دی.

که خاندېږم که ژاړېږم خو سوزېږم
د ډېوې غوندې بلېږم خو سوزېږم

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــه د یـــخ پـــه بڼـــه واورېـــه خـــو یـــخ شـــوم
کـــه پـــه اور بانـــدې بـــدلېږم خـــو زېـــږم

ژوند په ځنگ کې د سپوږمۍ او ستورو نه شي
ځــم د لمــر خــوا تــه ورخېــږم خــو ســوزېږم

لکــه پانــه پــه وجــود پــورې دې ښــخ يــم
ســتا لــه تنــه چــې بېلېــږم خــو ســوزېږم

مــا وې ژونــد پــه ســادتوب کــې دی ســاده شــه
ورځ تـــر بلـــې ســـاده کېـــږم خـــو ســـوزېږم.

۱۳۸۵/۰۹/۲۷
حیدرآباد

اور د محبـــت خـــو بـــې لوگیـــه وي
ځکـــه چـــې بـــې گـــازه بـــې لرگیـــه وي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي چې پرېمان زموږ په چم کې دي
خلـک بـه همدا سـې بـې زړ گيـه وي

سترې به د حضر(ع) په شان گرځي بيا[1]
ژونـد کـه تـر قيامتـه بـې مرگيـه وي

سـولو تـه يې بيا خلک په تبرو وهـي
ونـې چې بې سيوري بې پورگيـه وي

مينــه يـې ساده درسـره وگنـه
شـات يـې کـه درکـړې لـه منگيـه وي.

۱۳۸۵/۰۹/۲۷
حيدرآباد

(۱) : وايي چې حضرع يو چا ته د خپل اوږده ژوند په اړه د سترپيا خبره کړې وه، په پورته بيت کې همدې خبرې ته اشاره شوې ده.

روان د ځـان پـه گوښـي لار يمـه زه
د ملايکـو نــه هوښــيار يمـه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستا د مخ په لمبو سوی لَوَی
د ستا د شونډو هم حقدار یمه زه

په سپینه ورځ د ستورو شمېر کومه
خلک دې وایي چې وزګار یمه زه

سودا چې وکړمه نو بېرته به ځم
دلته راغلی له بل ښار یمه زه

کله تیاره کله رڼا وي ساده
په دغو لومو کې اېسار یمه زه.

۱۳۸۵/۱۰/۲
حیدرآباد

چې پرون مې دی لېدلی نن مې هېر دی !
نو ارمان مې د لېدلو ولې ډېر دی؟

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د حسن اندازه ده ډېره گرانه
نه په ناف دی نه په تول او نه په شمېر دی

د ارمان پوره کولو چل يې هم زده
خير دی خير دی که د زړه په ورلو شېر دی

څوک افتاب شي څوک مهتاب او څوک شهاب شي
دغه من دی دغه پاو دی هغه سېر دی

ستا په نام دی له خپل کوره راوتلی
ستا په مينه کې ساده له هر څه تېر دی.

۱۳۸۵/۱۰/۱۰
حيدرآباد

ستا په اراده کې يم جانانه زه
پټ په دې پرده کې يم جانانه زه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرځمــه لــه تــا ســره چکــر وهــم
ناست کــه پــه کوڅــه کــې يــم جانانــه زه

ستا د مخ لــه وړانگو څخه وړانگه يم
ســتا پــه رابطــه کــې يــم جانانــه زه

اې خــوا لــه دېوالــه څــه شــی نــه ويــنم
څــومره پــه خطــره کــې يــم جانانــه زه !

ورک رانه په ځان کې شوې حيران يمه
تــا وې پــه ســاده کــې يــم جانانــه زه.

۱۳۸۵/۱۰/۱۳
حيدرآباد

د گلــو کــر کــې ازغــي خپلــه کېــږي
کــر د مــالي پــه خوښــه کلــه کېــږي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه کــه ګیلــه کــوم خپــه چــې نــه شــي
خــوا رډه اشــنا ګیلــه لــه خپلــه کېــږي

د امتحـــان پـــه غتهـــو ګـــانهو
د یـــار تلـــل د ژونـــد پـــه تلـــه کېـــږي

ډار مې له تکې تورې شپې نه، نه شي
ډار مـې د سـتا لـه تـور اوربلـه کېـږي

مینــه چــې ســر تــه رســېدلی نــه شــي
ســاده جانانــه نــو بیــا ځلــه کېــږي.

۱۳۸۵/۱۰/۱۳
حیدرآباد

نــه راځــي پــه ژبــه چــې اول نــه وي پــه زړه کــې
داسې شی خو نشـته چې مې تـل نه وي پـه زړه کې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به پېژندنه بیا د ګل په څه شي وکړي
خپل که کوم صفت د کوم یو ګل نه وي په زړه کې

میاشتې ته ختل به څه ممکن په هغه وخت وي
پورته که اول ګوره ختل نه وي په زړه کې

یار چې مخامخ په مخه راشي ځمکه ګوري
تیتې کاته بیا ولې کړي که غل نه وي په زړه کې

ژوند د سادتوب کوي هوښیار را ته ښکارېږي
هسې که ساده چېرته پاګل نه وي په زړه کې.

۱۳۸۵/۱۰/۲۸
حیدرآباد

لګولی مې د زنې لاندې لاس دی
ارمانونه اند ېښنې دي او وسواس دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بــه خــود ورپســې وینــې غورځومــه
چې اغوستی یې د سره ګلاب لباس دی

ستا خویونه هم په ځان کې راوستی شم
ستا له حسنه مې چې شوی اقتباس دی

د پاچــا پــه ملاتــړ کــې ملنګــانو
هر وخت کړی ګران وطن ته التماس دی

ســتا ســاده پــاده نظـر زمـا پــه زړه کــې
پیــدا کــړی د رنګونــو انعکــاس دی.

۱۳۸۵/۱۱/۰۱
خیدرآباد

د هغــو بــه څــه هنــر نــه وي پــه زړه کــې
چې له " تا " نه یې خطر نه وي په زړه کې

پــه ګنــاه کــې هــم ثــواب وي کلــه کلــه
خو مطلب چې د چا شر نه وي په زړه کې

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صـــورت غـــړي پـــه گـــډوډو ســـر وي
چې پـه ځـان د چا بـاور نـه وي پـه زړه کې
بـــې خطـــره بـــه ابلـــيس پکـــې گرځېـــږي
کـه حضـور د پـاک اکبـر نـه وي پـه زړه کـې
نـو بيـا څنگـه لـه ښېـد يا نـه ورتـه راشـي؟
د شـيانو چـې "خبـر " نـه وي پـه زړه کـې !
نـر لـه ښـځې ځخـه څـوک شـي جـوړولی؟
چـې پخپلـه سـړی نـر نـه وي پـه زړه کـې

د لبــاس پــه ســادتوب کــې څــه مانــا ده؟
هـر سـاده چـې قلنـدر نـه وي پـه زړه کـې !

۱۳۸۵/۱۱/۱۱
حيدرآباد

چې پـه زړه کې پټ تصوير پـه سترگو راشـي
ســتا د حســن يــو تفســير پــه ســترگو راشــي

عقلـــه تـــه هـــم بـــې لـــه عشـــقه پـــوره نـــه يـــې
لـــه پاچـــا ســـره وزيـــر پـــه ســـترگو راشـــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راتلـــونکې او د تېــــر فکــــر پیـــدا کـــړي
چې د لمر سپوږمۍ تغییر په سترګو راشي

د شـــعور پـــه مرســـته ګرځـــه د زړه بـــازه !
لـــه کړیـــو نـــه زنځیـــر پـــه ســـترګو راشـــي

چې ساده لـه خوبـه ویښ شـم یـار تـه ورشـم
د لېـــدلي خــوب تعبیــر پــه ســترګو راشــي.

۱۳۸۵/۱۱/۲۲
حیدرآباد

وار د کلـي کـه د ښـار و نیمـه شـپه وه
د ړانـده راکېـټ ګـوزار و نیمـه شـپه وه

ښایي ګنده د دسمال یې خلاصه شوي
د بنګړیـو شـرنګهار و نیمـه شـــپه وه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولـئ مــه ولـئ نـارې وي پـه هرلـوري
غـل پخپلـه څوکـدار و نیمـه شـپه وه

یــو ناڅاپــه ټکــه راغلــه لــه اســمانه
د بــوډا پــر کــور بمبــار و نیمــه شــپه وه

یـو جانـان پـه میکـده کـې بـل سـاده و
یو ساقي او بل میخوار و نیمه شپه وه.

۰۲/۱۲/۱۳۸۵
حیدرآباد

ځنگـه بـه پـه ځنـگ کـې د حبیـب نـه وي؟
چـا کـې چـې بڅـرى د تخریـب نـه وي !

پتـــه د مـــین بـــه ځنگـــه ولگـــي؟
لاره کـې چـې خـار نـه وي رقیـب نـه وي !

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند به هم د مړو ژوندو په منځ کې وي
چېرته چې اصول نه وي ترتیب نه وي

غم به د ولس له منځه وباسي
غم که په چاروا کو کې د جیب نه وي

خدای(ج) که دا خانان هم دا سې وپا یي
ځنګ کې که د خان سره غریب نه وي

مه وایه هېڅ تنه ناروغي ساده
ځو دې چې موندلی خپل طبیب نه وي.

۱۳۸۵/۱۲/۰۸
حیدرآباد

په نیمه شپه کې ستا د غم توره چورلکه راځي
د زړه پر کور مې راتاوېږي ژړا ځکه راځي

چې سترګه وخېږي، سبا شي، په خپل کار پسې ځم
چې سترګه ډوبه شي، ماښام شي، اوربلکه راځي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې په زړه کې ځو مره وېره هم له ژبې لرم
باور په خدای(ج)، که دومره وېره له ټوپکه راځي

په کومه ورځ که د جانان سره یو ځای شمه زه
په هغه ورځ به په لاس ببرته زما ورکه راځي

په دې نیمګړې دنیا دا سې ژوندون تېر کړه ساده
چې پرېښتې دې جنازې ته له فلکه راځي.

۱۳۸۵/۱۲/۱۱
حیدرآباد

ستا د عشق په کومه سیمه کې روان یم؟
چې خبر نه په پري نه په انسان یم!

ځان ویجاړ راته ښکارېږي په خپل ځان کې
که د تن[۱] د غره په پیڅه کې ودان یم

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د پښتو تلي به ښکل کړمه زه خاورې
ستا تر شونډو به رسېږمه پېزوان يم

په سندرو په اتڼ يمه راغلی
غېږ دې پرانېزه چې ستړی يم ستومان يم

نه پوهېږم چې زه څه ومه بيا څه شوم
نه ساده يم نه اغيار او نه جانان يم.

۱۳۸۵/۱۲/۲۸
حيدرآباد

(۱) تن: زمونږ د کلي شمال ته پروت يو غر نومېږي.

خبرې نه کوي د قال په ژبه
را سره مينه کړي د حال په ژبه

حسن په هر ځای کې مظهر دی د عشق
جلال غږېږي د جمال په ژبه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـود بـه نـارې لکـه منصـور وهـې بيـا
د عشـــق خبـــره ده محـــال پـــه ژبـــه

فکـــر بـــه ډېـــر کـــوې، پـــوهېږې دلتـــه
د يـــار د کلـــي هـــر د ېـــوال پـــه ژبـــه

نـه بـه نفـرت او نـه بـه جنـګ وی سـاده
کـه پوهېـدی مـې کلېـوال پـه ژبـه.

۱۳۸۵/۱۲
حيدآرباد

پـه يـو نظـر دولـس چېنـې وباسـي
د زړه لـــه تلـــه اندېښـــنې وباســـي

هـــوا چـــې ښـــه وي ګناهونـــه کـــوي
چـې پـړک د تنـدر شـي تـوبې وباسـي

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

امـن امـان بـه ورتـه وايـوو پـه څـه؟
حـالات مـو اوس هـم جنـازې وباسـي

زمـوږ هېـواد لکـه ويشـتلى مارغـه
څوک يې غرې، څوک يې بڼې وباسي

خداى(ج) دې له ځينو ځينو ساته ساده
سـړى اخيـر لـه گـوزارې وباسـي.

۱۳۸۲/۰۱/۰۹
حيدرآباد

ولـې راتـه ځيـر دى د ژونـدي پـه څېـر؟
څه عجب تصـوير دى د ژونـدي پـه څېـر؟

فکـر د فنکـار بـه يـې پـه تـن کـې وي
بُت کې چې تـاثير دى د ژونـدي پـه څېـر

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل عشق شعور سره تړلي دي
جوړ تري نه زنځير دی د ژوندي په څېر

بيا به په تيارو کې نه ورکېږمه
زړه کې مې تنوير دی د ژوندي په څېر

ستا له دبدبې نه د ساده وجود
مړ دی که زهير دی د ژوندي په څېر.

۱۳۸۲/ ۰۱/ ۱۳
حيدرآباد

باشعوره بااحساسه لېوني وي
کوم سړي چې ستا له لاسه لېوني وي

ما چې غوښتو لېونتوب مطلب مې دا و
ما وې خلاص به له وسواسه لېوني وي

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي راغی د پښتون په باب يې ووې
بې شرابو بې ګېلاسه لېوني وي

د رنګونو په لباس کې وي نغښتي
په ظاهر که بې لباسه لېوني وي

سل کتابه د مُلا يې وي په زړه کې
ساده خلاص له اقتباسه لېوني وي.

۱۳۸۲/۰۲/۲۵
حيدرآباد

ستا راتګ زما په ګټه تمامېږي
پروا نشته که مې ځته تمامېږي

نن دې وخت دی چې د پوهې څراغ بل کړې
د رڼا سپينه سکروټه تمامېږي
د پاچا د خزانو پشانې ګوره
د زړه زور مې تل په پټه تمامېږي
د حالاتو اژدها راپسې راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه په چیغه[۱] نه په ستهه[۲] تمامېږي
خپل وطن کې مو ځولۍ نیولې بل ته

دا کیسه خو ډېره غټه تمامېږي
ستا په غم کې د مین متې کړې شوې

زور د ونې هم په ستهه[۳] تمامېږي

د ساده د عمر تېلو ته حیران یم
بې ډېوې او بې ډېوټه تمامېږي.

۰۸ /۰۳/۱۳۸۲
حیدرآباد

(۱) چیغه: په څه پېښه پسې ناڅاپي او سملاسي د خلکو داسې لښکر وتل چې ډول، ډول تېره پخه ورسره وي.
(۲) ستهه: یو څه له منځه وړل، د یوې کورنۍ له منځه وړل.
(۳) ستهه: د ونې تنه.

مجاز له منځه لاړ شي حقیقت پکې پیدا شي
بو سه چې ترې نه وا خلم کرامت پکې پیدا شي

ښکلا ته که د سر په سترګو ګورې نو خبر شه
د زړه په سترګو ګوره چې جنت پکې پیدا شي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصــویر پکــې د یــار د مــخ پــوره کلــه ځــا یېږي
هنــدا ره چــې وړه وي نــو حیرت پکــې پیــدا شــي

پــړا و د ســرېتوب تــه یــې لا ډ ېــر مــزل وي پــا تې
د ښــکلو پــه لېــدلو چــې شــهوت پکــې پیــدا شــي

اخیــر بــه انــا الحق نــا ره ســا ده پــه چیغــه وکــړي
چې تا تــه د رنــږدې شي ستا صفت پکـې پیدا شي.

۱۳۸۲/۰۳/۱۰
حیدرآباد

د یــار غــم تــه کــه د غــره غونــدې زړګی شــي
خــو اخیــر لــه درده وژا ړي نــری شـــي

بـــې لـــه مینـــې لکـــه ژوی ځلو ربـــولی
چــې د مینــې شــړک یــې ووهــې ســړی شــي
زه بــه خــود وایــم د یــار پــر ځــای چــې زه یــم
دی بــه خــود وایــې زمــا پــر ځــای چــې دی شــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د سترګو فکر راشي بې اختیاره
که خبره مې په خوله کې وي غورزي شي
له فتنو نه چې پناه غواړي په ژوند کې
یا شاعر شي یا ملنګ یا لېوني شي
چې د دین سلیماني یې نه وي ورک شه
که د سرو زرو په ګوتي کې غمي شي

عاشقان به لکه بوی درپسې ګرځي
که ساده د ستا په څڼو کې ببری شي.

۱۳۸۲/ ۰۳/ ۱۲
حیدرآباد

د مزدور د لاس تڼاکې هم ګوهر دي
بټ لرونکي ته کڼاکې(۱) هم ګوهر دي

لېوني او لېوني سره پوهېږي
که کېسې کوي کاواکې هم ګوهر دي

چې مسکی شي د یار شونډې غوټۍ ګل شي
چې خاموش وي مُهرلاکې هم ګوهر دي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپین مخ په میکده کې ښکلې سترګې
هم قاصدې هم خوستیاکې[2] هم ګوهر دي

نه پوهېږم د ساده دغه سندرې!
هم ساده دي هم تُلپاکې[3] هم ګوهر دي.

۱۳۸۲/۰۳/۲۲
حیدرآباد

(۱) کڼاکې: د جوارو هغه دانې چې په بټ کې ګل یا نینې نه شي.
(۲) خوستیاکه،خوسیاکه،خښیاکه: د خوست په بېلابېلو لهجو کې ابابیل ـ توتکۍ ته وایي.
(۳) تلپاک، جمع تلپکان، مونث تلپاکې ـ ت، په پښ سره : زموږ په لهجه کې معصوم ـ پاک ـ او سوتره ماشوم ته وایي.

نه پوهېږم چې زړګی لري سبنه کې
که د زړه په نوم لرګی لري سبنه کې

زه به هم پکې د مینې لمونځ ادا کړم
که د خدای(ج) په نوم په کورګی لري سبنه کې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په محشر به یې تپوس له یاره وشي
د یار نښه شین لوګي لري سینه کې

د بشر غوښې مدام پکې پخېږي
ځینې خلک وي د ډېګی لري سینه کې

د ساده د هیلو ونې یې کړې لنډې
د خبرو تبرګی لري سینه کې.

۱۳۸۲/ ۰۴/ ۱۱
حیدرآباد

ستا په محبت کې که وګړی وي
نوم یې له تمامې نړۍ وړی وي

شین لکه مزری په همت او سي
سر په ګرېوانه لکه سرګړی وي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښـــې لا ســونه وتــړي پــه دا ســې شــي
نــوم يــې چــې زنځيــر او نــه هــم پــړی وي

ناســت د تکامــل د غــره پــر څوکــه وي
ځــان يــې پــه خشــاکو حســاب کــړی وي

پــوه يــې کــه ســاده پــه ادا ګــانو شــي
ســر تــر پايــه خــوږ وي خــوږ ږزړی وي.

۱۳۸۲/۰۵/۲۴
حيدرآباد

څــه چــې غــوارم هغــه نــه راکــوي مــا تــه
څــه چــې نــه غــوارم هغــه راکــوي مــا تــه

کومــه شــپه بــه د اســمان فلنــګ تــه خېژم
کومــه شــپه بــه سپينه خولــه راکــوي مــا تــه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشوم په خبر مې ژر سره پخلا کړي
چې خپه شمه خوارېږه راکوي ما ته

زه به سر ورباندې ورکړمه ربیاره
که په لپه کې اوبه راکوي ما ته

بیا به هله له ساده کومه هیله
که ذمه د ژوندانه راکوي ما ته.

۱۳۸۲/۰۲/۰۲
حیدرآباد

ستا روښانه مخ ته پرېښتې لېونۍ کېږي
لرې ترې نه مه ځه چې په دې لېونۍ کېږي

جار دې شم ساقیه نن دې کړی چې څه چل دی
ته لېونی کېږې که پیالې لېونۍ کېږي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ته مخامخ شه د هستۍ له هسکه ورکه
شېخه لېونيه ستا تسپې لېونۍ کېږي

شور د بنديوان به د پاچا تر غوږو رسي
شئ به پرې خبر چې زولنې لېونۍ کېږي

پام کوه ساده د خپل قلم سره دې چل کړه
ستا غزل چې واوري زمانې لېونۍ کېږي.

۱۳۸۲/۰۲/۰۲
حيدرآباد

څه په مکر څه په مينه راپسې دی
خدايه ! خلاص مو کړې بې دينه راپسې دی

د کلتور په شنو رګونو کې مو ګرځي
رانه زبېښي د زړه وينه راپسې دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـه بـې تـورې نـه بـې ډالـه دي راغلـی
نـه بـې آسـه نـه بـې زینـه راپسـې دي

هـم لـه نښکته هـم لـه پورتـه یـم پـه ننبـه
یـو لـه روسـه بـل لـه چینـه راپسـې دي

د پـاړو هـوده یـې ماتـه کـړه بـې لمـاز شـو
سـر یـې ویسـتی لـه خورجینـه راپسـې دي

د سـاده کېسـې تـه غـوږ شـه عـېش پرسـته
شـوکوي دې لونګینـه راپسـې دي.

د مستۍ د سپند پـر غـاړه ګـوتې راکـړه
د ژونـدون د مرګـي دواړه ګـوتې راکـړه

راشـه راشـه امتحـان راځنـې واخلـه
سـتا چـاړه شـوه زمـا غـاړه ګـوتې راکـړه

د پښتو کتابونو پر لیکه نړی - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برېښنا غونډې يې ببرته راستنه کړه
هله هله ساه مې لاړه ګوتې راکړه

له دنيا به چېرته لرې سره لاړ شو
سره ګرځو به په ښاره ګوتې راکړه

لاړم لاړم ساده لاړمه غورځېږم
د ښکلا پر غره ولاړه ګوتې راکړه.

۱۳۸۲/۰۲/۱۰
حيدرآباد

نه ادراک او نه مې ځواک و بېګا شپه
تر سهاره زړه خوراک و بېګا شپه

پرې راغلی و اثر د چا د خوی
ونه بوتی هم چالاک و بېګا شپه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـر دوښـمن مــې مسلسـل نـه و گـوزار
خـالي شـوی مـې تبـراک و ښېگـا شــپه

غــم د غــم د پاســه راغــی پــه ډېــر غــم
غم د شاه غوندې ټولواک و ښېگا شپه

مـــرگ د امـــن ور پرانيســـتی و تيـــار
ژونـد لـه هـر څـه خطرنـاک و ښېگـا شـپه

شـــوی تـــس د چالـــه لاســـه و ســـاده
پـر سـر مـات د چـا مټـاک و ښېگـا شـپه.

۱۳۸۲/۰۲/۱۴
حیدرآباد

وينـه چـې پـه جـوش کـې نـه راځـي د چـا
ژونـد بـه هـم پـه هـوش کـې نـه راځـي د چـا

ســـتونزه يـــې نـــو څـــه د پټولـــوکړې
لـوی سـړی پـه پـوش کـې نـه راځـي د چـا

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال د ستورو گوره، چې خطا نه شې
لمر خو په آغوش کې نه راځي د چا

ځو مره شوې نشه په دې وړو کي غوړپ
دا نشه په نوش کې نه راځي د چا

مه کوه نفرت له دې دنیا ځنې
هر یو شی په خوش کې نه راځي د چا

مینه دې ساده له خدایه وغواړې
زړه که په خروش کې نه راځي د چا.

۱۳۸۲/۰۲/۱۵
حیدرآباد

لاره بنده د پردیو د فساد کړه
د خپل ځان له ذاته ښکته اقتصاد کړه

ځو به ناست وې د سوال تورې ته بې توري
تبر واخله د خلیل(ع) غوندې جهاد کړه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وجـــود حاصـــل بـــه لاره پـــه لاس درکـــړي
ســـره جمعـــه دې پـــه ذهـــن کـــې افـــراد کـــړه

چـې خوشـال دې پـه قبرونـو کـې اجـداد شـي
راشـــه خـــلاص لـــه دې بـــلا اُم الِـــبلاد کـــړه

کـــه د دې غـــزل پـــه ټکـــو دې ځـــان پـــوی کـــړو
د ســـاده درتـــه دعـــا ده خدای(ج) دې ښـــاد کـــړه.

۱۳۸۲/۰۷/۰۸
حیدرآباد

رڼـــا یـــې وخوړلـــه شـــپې اوږدې شـــوې
لـــه خپـــل ځـــادره رانـــه پیښـــې اوږدې شـــوې

نـــن یـــې پـــه زلفـــو ځـــه بـــلا کـــړې وه
تـــه وا چـــې ورو ورو غزېـــدې اوږدې شـــوې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مــزل د مینـــي، پـــه ســـندرو کـــوم
گناه مې څه دی که مسرې اوربدې شوې

د چا لـه لاسه يې پرې کېږي غـړۍ؟
د چا په لوري يې لېندې اوربدې شوې!

کېســـه د هـــو او يـــاد نـــه وه ســـاده
ریبار چې ورغی کېسې اوربدې شوې.

۱۳۸۲/۰۹/۱۵
حیدرآباد

په دې پلمه يې راته څه رنگين فساد راوړی
د تبر خولې ته يې لمڅی د اقتصاد راوړی

د يوسفي(ع) حسن سودا ده جانان غلی ناست دی
زړې بوډۍ هم په ورغوي کې جايداد راوړی

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیـر لـه بمـه لـه ټوپکـه يـې نورڅـه راکـړي؟
مور ته د خدای(ج) لپاره کوم سړي امداد راوړی !

د وخـت جـابردې داسـې وګڼـي چـې دی ښـیمه
کـه پـه غـزل کـې مـې فرغـون یـا شـداد راوړی

دغـې دوران د مشـینه رانـه مشـین کـړې سـاده
لکه چې دلتـه يې د کـار پـر ځـای الحـاد راوړی.

۱۳۸۲/۱۰/۱۷
حیدرآباد

زه پـه اور کـې تـه د بـاد جـامې پـه غـاړه
دلتــه راغلــې د فســاد جــامې پــه غــاړه

د ژونـدون د ضـمانت جـامې يـې ویسـتې
دي جهــان د اقتصــاد جــامې پــه غــاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نظـــر د جنګولـــو رنـــګ يـــې ببـــل وي
ګنـــې ډېـــرو د الحـــاد جـــامې پـــه غـــاړه

د کمپيـــوټر لـــه جنتـــه يـــې رانيســـۍ
کـــه کـــارتون وي د شـــداد جـــامې پـــه غـــاړه

خپـل هېـواد کـې بيـا پـه کومـو سترګو ګرځو
د پرديـــو د هېـــواد جـــامې پـــه غـــاړه

هـــر ســـړی لـــه خپلـــې خـــولې ســـاده و برېـــږي
هـــر ســـړي دي د جـــلاد جـــامې پـــه غـــاړه.

۱۳۸۲/۱۰/۲۱
حيدرآباد

هـــم يـــې بڼـــه هـــم يـــې بـــوی راپســـې راوړ
خپـــل جنـــت تـــه يـــې بـــد خوی راپســـې راوړ

لـــه کارغـــه نـــه مـــې تپـــوس د ښـــکلي وکـــړ
پـــه وربښـــمو کـــې يـــې زوی راپســـې راوړ

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ساتل خو د ادې د شېدو فرض دي
ګوره جنګ چې کله دوی راپسې راوړ

د رنجو په څېر به سترګې کړم پرې تورې
که چا خاک د یار د کوی راپسې راوړ

تش له نامه یې چې زړه زما چاودولو
اوس یې ساده دلته روی راپسې راوړ.

۱۳۸۲/۱۰/۲۲
حیدرآباد

له فتنې او له فساده تښتو لرې
له دې نوي اقتصاده تښتو لرې

چارچاپېره د اور لیکه رانه تاو ده
اوس به چېرته له هېواده تښتو لرې
نه د بزم نه د رزم ځلي ساتو
له متونه له شمشاده تښتو لرې
که په تېښته مو برې وي خرپ او ترپ دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نا پوه یوو چې له باده تښتو لرې
د ریا په رنګ لړلې څو ناري دي
له ارشاده هم له داده تښتو لرې
د قارون په لوري درومو چې دا ولې؟
له منصوره له فرهاده تښتو لرې!

د خدای(ج) ښنګ ته ساده دومره نېږدې کېږو
چې هر څومره له الحاده تښتو لرې.

۱۳۸۲/۱۰/۲۴
حیدرآباد

د مشین په شان چې زړه د چا مشین شي
د ولاړو اوبو کاڼی شي تکشین شي

د رڼا تیاري تپوس به ورنه کېږي
تور و سپین د تورو سپینو به ژر سپین شي

لکه ستا پر ښنګل بل جهان ته لاړشم
بې له تا خوبونه کله پر بالین شي

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حساب حساب چې گرځي په حساب وي
په حساب کې به له هر چا اولین شي

د الهام رڼا یې زړه ته نه رادرومي
چې شاعر یې په ځان ختم کړي خودبین شي

ته وا ژوند ساده د ژمي وړه ورځ ده
چې سهار له خوبه پاڅې ماسپښین شي.

۱۳۸۲/۱۰/۲۴
حیدرآباد

په محبت کې به د یاره لپاره وړې ډبرې
په دغه چار کې به پر نس پورې تړې ډبرې

د توکل د تبرې توري مخه کله وینې
دوی که هر څومره سولوي راته چاړې ډبرې

د سر د پاسه مو لگېږي هرگوزار چې کېږي
رڼدو حالاتو مو په تن کې کړې مړې ډبرې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا د حسن د غمیو په لتون مینه؟
په تورو غرونو کې ګرځېږې او توررېږې ږبرې؟

چور دې لېدلی دی ساده د قیمتي ږبرو
د څه لپاره په شعرونو کې راوړې ږبرې؟

۱۳۸۲/۱۰/۲۷

چې بنسټ یې د حرامو له نسب وي
د قابیل غوندې قاتل او بې ادب وي

د ضمیر لښتی دې سپین کړه هله ژر شه
له دې وجې نه د زړونو اوبه ږب وي
قافله د ژوند روانه وي منزل ته
نه په باد نه په ږلۍ او نه په شب وي
د مجاز له ربه کله بیا وېرېږي
چې رښتینی کوم سړی، سړی د رب وي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مـــین ښـــکلا د زړه لـــه زخمـــه بریښـــي
لکـــه پېغلـــه ډولناکـــه پـــه ســـره لـــب وي
د مـــرداري پـــر ســـر واغ او کـــاغ نـــاري کـــړي
چـــې ســـړی لګیـــا پـــه لهـــو پـــه لغـــب وي

لـــه خپـــل ځانـــه ســـاده داســـې ســـړی جـــوړ کـــړه
چـــې خـــوراک یـــې د جنـــت لـــه ســـینده کـــب وي.

۱۳۸۲/۱۱/۱۷
حیدرآباد

ژونـــد مـــې د حـــالاتو ســـره جـــوړ نـــه دی
دا د پښـــتني جنـــت نچـــوړ نـــه دی

هـــر وختـــې د یـــو د بـــل کمـــی کـــوي
ټـــول عمـــر د ورور پـــه غوښـــو مـــوړ نـــه دی

ځوان چـــې وي بـــې پـــوهې راتـــه زوړ بریښـــي
زوړ مګـــر پـــه ســـپینو وښـــتو زوړ نـــه دی

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــوري د قــرآن يــې رانـــه وا ړول[۱]
لا يـې هـم زړګـی رابانـدې سـوړ نـه دی

ستا صفت ساده لـه تولـو ښـه وکـړو !
خیـر کـه پـه ادب کـې امیرکـروړ نـه دی.

۱۳۸۲/۱۱/۱۸
حیدرآباد

(۱) : یو شخص ته اشاره ده چې قصداً یې عظیم شان قرآن ناسم ژباړلی و.

مـړ شـي خـو د یـار د مینـې وړ نـه شـي !
څنګـه بـه بیـا د اسـې سـړی پـړ نـه شـي؟

څـو چـې د خـوارۍ پرخـاورو خـړ نـه شـي
هـیڅ بـه پـر اصـیلو غـوړو غـوړ نـه شـي
خولـــه دې تکـــه ســـپینه د زمزم چینـــه
زړه مـې تـرې تـږی دی چـې مـړ نـه شـي
دومـــره د ډالـــرو مینـــه څـــه مانـــا
دا خلـک پـه بـل عـذاب ککـړ نـه شـي
لاس پـــه دعـــا پورتـــه کـــړئ دعـــا کـــوئ
ژونـد چـې د ولـور پـه شـانې لـوړ نـه شـي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوی یې کړئ رقیب خلکو چې پوی دې شي
هسې ورخطا رانه څپېړ نه شي
ځم به هره شپه شپه د سپوږمۍ کره
پرې که د حالاتو رانه لړ نه شي

دومره ورته پته د ځان نه لګي
څو چې د ساده په شانې اړ نه شي.

۱۳۸۲/۱۱/۱۸
حیدرآباد

چې د ستا د مینې وړ شم بیا به درشم
چې کړې د دغې لړ شم بیا به درشم

لا له ځانه هم مخ پورته په هوا یم
بیا که ببرته ته را په ځوړ شم بیا به درشم

که او به شم یا هنداره شم یا ستوری
یا د خاورې غونډې خړ شم بیا به درشم

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لــيلا غونــدې مــې ټولــه زړه تــه راغلــې
د مجنــون پــه شــان بــه اړ شــم بيــا بــه درشــم

اوس پــه رنــګ ســاده پــاده يــم لــږ مــې پرېــږده
د رنګونــو نــه چــې لــوړ شــم بيــا بــه درشــم.

۱۳۸۲/۱۱/۲۳

خطــا کلــه لــه طبعيتــه داســې کېــږي
د ســړيو لــه عادتــه داســې کېــږي

چې ماران راسره مخ شي وبښ يې مړه شي
د اشــنا لــه کرامتــه داســې کېــږي
زه پخپلــه دومــره کلــه ورخطــا يــم
ستا د سترګو لــه هيبتــه داســې کېــږي
يــو نظــر چــې ســره زر نظــره يــو کــړي
د يــو شــي لــه محبتــه داســې کېــږي
لکــه زه چــې پــر ســر واخيســتم حــالاتو

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غوړو باندې له کُرته دا سې کېږي
ما وې بیا به درته مینه یاده نه کړم
خو قربان دې سلامته دا سې کېږي

څوک به څه ګیله ساده له چا نه وکړي
څه چې کېږي له قدرته دا سې کېږي.

۱۳۸۲/۱۱/۲۳
حیدرآباد

لـه دوو سترګو ځنې پته پژندنه
د زړه کار دی د بېره غته پېژندنه

چا ته نه راځي تر کته پېژندنه
په خواري کېږي په لته پېژندنه

په ساتنه په پالنه کې یې ژوند دی
که هر څومره شي سکروټه پېژندنه

د چینجي په څېر یې جرړې خوري په پټه
د وسواس توره ګونګټه پېژندنه

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس بې ګټې او بې ښتې به ولاړ وي
چا کــه ورکړلــه پــه ګټه پېژندنــه

که لږ ځان ته ساده ځير شې د ځان پير شې
ستا پــه ځېــر ده کته متـه پېژندنــه.

۱۳۸۲/۱۱/۲۴
حيدرآباد

نظـر د يـار چې هېڅ لغـزش نـه کـوي
ولــې بــه اغېــز د آتــش نــه کــوي

لوبــه د مينــې يــې بــا يللي بويــه
د زړه لوبغــاړی چــې ورزش نــه کــوي

تعمير د ژوند به ورته څوک کړي تعمير
لــه کته نــه خوځي کوشش نــه کــوي

ښـايي د ښـکلو لـه فضـا شـوم پورتـه
نــن د پــرون پښــان کشــش نــه کــوي

www.ketabton.com - د پښتو كتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غــم د راتلــونکي درتــه وخــوره ســاده
حــال دې د حــال ســره ســازش نــه کــوي.

۱۳۸۲/۱۱/۲۸

د زړه ستورې مې د غـره پـر سر ولاړ دی !
کــه اشــنا زمــا د زړه پــر ســر ولاړ دی؟

د پښــو لانــدې یــې رڼــې اوبــه روانــې
پــه هــوا کــې یــې مارغــه پـر سـر ولاړ دی

د پروتــې غونــدې ورو ورو شــه وریپورتــه
کشـــمالې د دېوالـــه پـــر ســـر ولاړ دی

د الفــت ســاړه نیــولی پــه غرمــه یــم
کــه هــر څــومره مــې غــارمــه پـر سـر ولاړ دی

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختـــه لاره د تـــګ نشـــته شـــاته اور دی
ساده ژونـد مـو د کمـره پـر سـر ولاړ دی.

۱۳۸۷/۰۳/۲۳
حیدرآباد

ستـا د دوسـتۍ ورڼـه یـم غریـب یمـه
لا د یـــارۍ ورڼـــه یـــم غریـــب یمـــه

ژونـد راسـره نـه کـوي ژونـدي خلـک
مـړو تـه لا ورمـړ نـه یـم غریـب یمـه

هـــر ســـړی لمنـــې ټولـــوي رانـــه
هېـڅ پـه غـم ککـړ نـه یـم غریـب یمـه

پـرې مـې ږده چـې کـار کومـه، کـار کـوه
ستـا پـه شـانې غـوړ نـه یـم غریـب یمـه

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښـــو مره چـــې ســـاده را ســـره يـــا ر کـــوي
دو مـــره ورتـــه پـــر نـــه يـــم غريـــب يمـــه.

لـــه هـــرې تيـــرې نـــه نـــارې روانـــې
د گـــران وطـــن مـــو کنـــارې روانـــې

د بنـــد يوان امـــام پـــه ســـپينه پســـې
تـــه وا جومـــات او منـــارې روانـــې

هـــا د ســـرې چينـــې پـــر غـــاړه ونـــې
تمبـــــې تمبـــــې ارې ارې روانــــــې

پـــاره پـــاره مـــو شـــوه پـــاره د وطـــن
اوس لـــه پـــارې نـــه هـــم پـــارې روانـــې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په راتګ سره طبیبه اشنا
شوې له زخمونو فوارې روانې

لار به شي ورکه له غلیمه ساده
که شي په چیغه نغارې روانې.

۱۳۸۷/۰۹/۱۷
حیدرآباد

جوړه به وړې وړې نړۍ نه شي
دا وړې به هېڅکله شړۍ نه شي

جنګ که د مړي لپاره کړي سړی
مړ به شي خو موړ به په مړۍ نه شي

هېڅکله زنځیر ترې نه جوړېږي نه
څو چې له کړۍ سره کړۍ نه شي

غم به یې په مینه کې له ځایه وي
یار که د خپل یار سره غړی نه شي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــوره د ایمـــان چـــې پســـې وانخلـــو
پـــرې د ټولـــوژنې بـــه لـــړې نـــه شـــي

پرتـــه د یـــو نـــوح (ع) پـــه څېـــر ســـړي ســـاده
جـــوړه بـــه زمـــوږ د ژونـــد بېـــړې نـــه شـــي.

۱۳۸۷/۰۹/۱۷
حیدرآباد

غـــم گرځـــي فتنـــه گرځـــي فســـاد گرځـــي
کـــور پـــه کـــور ښـــامار د اقتصـــاد گرځـــي

خیـــر دی کـــه مـــوږ مـــړه پـــه انتظـــار کـــې شـــو
"دوی" مـــو چـــې پـــه لارو کـــې آزاد گرځـــي

ســـوله د لـــیلا پـــه څېـــر د نـــورو شـــوه
تـــور مجنـــون پـــه دښـــتو کـــې برباد گرځـــي

شـــعر یـــې د ډالـــرو اوربـــدلی دی
هـــر ســـړی پـــه واه واه پـــه ارشـــاد گرځـــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي مو په سیمه کې اصیل مرغان
هر طرف ته لومې د صیاد ګرځي

دومره به بې واکه وي پاچا ساده
څومره چې د نورو په امداد ګرځي.

۱۳۸۷/۰۹/۱۷
دلوی اخترشپه / حیدرآباد.

هر څه چې کېږي احتجاج نه لري !
"خلک" پر سر د پوهې تاج نه لري !

زموږ په سیمه کې بربنډې زلفې
دغسې چارې خو رواج نه لري

مینه په زړه کې زړه په مینه کې وي
دغه د کار لوښی سامراج نه لري

لاره د ژوند به لاروی کړي ورکه
په توره شپه کې چې سراج نه لري

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له یاره چې غني دی ساده !
څنګه به چا ته څوک احتیاج نه لري؟

۱۳۸۷/۰۹/۲۲
حیدرآباد

سپینې پګړۍ پسې یې توره ویستې
درسته نړۍ پسې یې توره ویستې

کړۍ کړۍ یې کړو زنځیر د هېواد
هره کړۍ پسې یې توره ویستې

سپینه خولګۍ ترې نه په زوره اخلي
تنکۍ غړۍ پسې یې توره ویستې

لاس د سړي یې پسې پرې کړو اخیر
ګوتې ګړۍ پسې یې توره ویستې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدل د ماتې رانه اخلي داسې
زموږ شرې پسې يې توره ويستې

سورې سورې يې کړه په پټه ساده
د قام بېړې پسې يې توره ويستې.

۱۳۸۷/۱۰/۲۵
حيدرآباد

ناصح دې وايي چې فساد کومه
مخ ته دې ګورمه جهاد کومه

لومه لېندۍ شي د ورور سر او پښو ته
ځکه غندل د اقتصاد کومه
د لمر په مخ باندې يې سيوري کړي
په رنګو زلفو انتقاد کومه
دا مې پرهر په خوځېدو راغلی
کمزوری نه يم چې فرياد کومه
هغه په دې کېسه دوښمن شو راته
نه يې غندمه نه عناد کومه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوسه مې یاده کړه غوسه شوې په څه؟
د گلـــو لښـــتې پېشـــنهاد کومـــه !

پــه ســپین زړگــي ورتــه ولاړ یــم ســاده
پــه ســپینه خولــه یــې اعتمــاد کومــه.

۱۳۸۷/۱۰/۲۵
حیدرآباد

ستا اننگو تـه مې چې خوله نېـږدې شي
لکــه لمبــو تــه چــې لمبــه نېــږدې شــي

هغـه چې څنـگ تـه د هاغـه نېـږدې شـي
تنکـي پرهـر تـه جـوش اوبـه نېـږدې شـي

واړه منفـــي مقناطیســـونه ښـــکاري
چـا تـه بـه څنگـه د چـا زړه نېـږدې شـي

د وروځـو مـنځ تـه یـې کتلـی نـه شـم
د ورځـې مـنځ تـه چې غـارمـه نېـږدې شي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه به زده کړه له یو بله وکړي
رندو کښو ته چې کانه نبردي شي

پټ وي لبوان ورته کوځو کې ساده
مابنام چې کلي ته شپانه نبردي شي.

۱۳۸۷/۱۰/۱۵
حیدرآباد

ستا نظر زما نظر
بېل دی د هر چا نظر

چېرته د پښتو پیغام
چېرته د دنیا نظر
خوب کې یې هم پېژنم
درونډ وي د اشنا نظر
بام ته دې درپورته کړم
کوز دې کړم په بیا نظر
ځان ته ماشاءالله وایه
خوري دې د دنیا نظر
ولې دي جدا جدا؟
دین او د مُلا نظر!

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

گــــډوډې نــــه منـــــي
زړه تــــه ځــــي رســـا نظــــر

ښــه کــړه اقتصــاد ســاده
خوري مو اوس پـه دا نظر.

۱۳۸۷/۱۰/۱۵
حیدرآباد

باور مـې هـېڅ د چا پـه لـوړه نـه شي
زهـر دې ګـډ چا تـه پـه ګـوړه نـه شي

سـپېرې سـپېرې وچــې خبـرې کـوي
خولـه د ريبـار چې کلـه غـوړه نـه شي

پـه قـد قـامـت کـې يـوو همزولـي سره
کـږه پېچکـه(۱) يـې چې لـوړه نـه شي

ژبــه تېــره تــوره اوږده پکـــار ده
ژوندون پـه جي جي او پـه مـړه نـه شي

چـا تــه کــه تيـې تــورې نــه ګرځــوې
روښـانه طبـع بـه دې خـړه نــه شــي

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغ دروغ يـــي ســـاده مينـــه بولـــه
مســـته ځواني چې پکې لړه نه شي.

۱۳۸۷/۱۰/۲۵
حيدراباد

(۱) پېچکه: پېښکه، پېکی، اوربل.

د خـــدای(ج) د مينـــې د تقـــدير لاســـونه
راځنـــې غـــوارې د تـــدبير لاســـونه

محبوبې ! ستا په تور بندې راخلاص شو
تغمـــې تغمـــې يـــې پـــه زنځيـــر لاســـونه
لا د مظلـــوم پـــه وينـــو ســـره ککـــړ دي
لا يـــې لګيـــا دي هـــم پـــه چيـــر(۱) لاســـونه
خـــو بـــه غـــوځېږي پـــه غميـــو پســـې
د هنـــدوکش او د پـــامير لاســـونه
پـــه نښـــه نښـــه ظـــالم وويشـــتلو
مـــخ تـــه نيـــولي وو صـــغير لاســـونه

کـــه چـــا ســـاده تـــه وې چـــې غـــل رانيســـه
زه بـــه ترمـــه د اميـــر لاســـونه.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۸۷/۱۰/۲۶
حیدرآباد

(۱) چیر: زموږ په لهجه کې (چور) ته وايي.

درسته دنیا راپسې کورته راغله
اُم البلا راپسې کورته راغله

پرون چې پاتې ترې نه سر و دلته
هغه نن بیا راپسې کورته راغله

د وخت "شمر" مې ترهگر یادوي
چې کربلا راپسې کورته راغله

څه په اوبو اوبو کې غلې غلې
څه په هوا راپسې کورته راغله

ساده چې سر مې ورته نه ټیټاوه
ساده په دا راپسې کورته راغله.

۱۳۸۷/۱۰/۲۶
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه جنـګ فسـاده هـم فتنـې خـورې شـوې
سـتا لـه جهـاده هـم فتنـې خـورې شـوې

غـم يـې د مينـې ښـكلا منځ تـه راوسـت
لـه اقتصـاده هـم فتنـې خـورې شـوې

ديـن "مُلاالـدين" يـې دواړه ديـن وګانـه
لـه شعـر ارشـاده هـم فتنـې خـورې شـوې

پـه ځـان ځـانۍ كـې هـم خـوراک وو د بـل
لـه اتحـاده هـم فتنـې خـورې شـوې

لـه ډېـرې مينـې نـه هـم پـورې شـو اور
لـه ډېـر فسـاده هـم فتنـې خـورې شـوې

د مـرده بـاد لـه لاسـه مـړه شـوو سـاده
لـه زنـده بـاده هـم فتنـې خـورې شـوې.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۸۷/۱۰/۲۷
حیدرآباد

○

له خپله له ځایه چې بې ځایه شو نن
خدای(ج) یې لرلو خو بې خدایه شو نن

د چا په گوته جنگیدلو پرون
د چا په گوته پښتون مایه(۱) شو نن

نن مې د مینې په زور وپوهېدم
یار چې مسکی راته له ورایه شو نن

د ورور د وینې تجارت یې وکړ
د ورور په وینه کې بډایه شو نن

د نورو نورو پروا نه کړي ساده
په نورو څه کړي ستا په رایه شو نن.

۱۳۸۷/۱۰/۲۹
حیدرآباد

(۱) مایه: د متاکانو (چهارمغزو) او یا چهارمغزو ته د ورته څېزونو د لوبې او گټنې په وخت کې هغه ژور ځای ته وایي چې چارچاپېره ترېنه کرښه تاو وي.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یــو بدغونــدې معــاش پــه لټــون ســر دی
ژوندی مړ شو اوس يې لاش په لټون سر دی

نغــری او تبخــی يــې تــر پــام بــد شــو
بــرق يــې نشــته خــو د داش پــه لټــون سر دی

د لـــيلا د مينـــې نـــوم يـــې دی ورکـــړی
مجنـون گـوره د خشـخاش پـه لټـون سـر دی

د منگـــې او د ربـــاب لـــه ترنگـــه تښـــتي
د "پاچـا وزيـر او تـاش "(۱) پـه لټـون سـر دی

ســـاده هـــر خـــوا د ښـــکلا کتـــوه گـــوري
د ماشـوم پـه خېـر د راش(۲) پـه لټـون سـر دی.

۱۳۸۷/۱۱/۱۷
حيدرآباد

(۱) تاش: کاغذ بازي، قطع بازي، پاڼې. او (پاچا وزير) د دغې لوبې يو ډول دی.
(۲) راش: اش ، پيروی.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم به توره هم خنجر پرځمکه کېږدي
د ښامار غونډې به سر پرځمکه کېږدي

د پاچا لاسونه تش دي هيله نشته
چې قدم د پېښور پرځمکه کېږدي

يار خبر کړئ هسې نه چې خون مې واخلي
د نظر تېښه دې ژر پرځمکه کېږدي

بې له ماتې به د قام په مخکې څه وي؟
چې کتاب د پيغمبر(ص)، پرځمکه کېږدي !

د ساده د مرګ خبر به در له درشي
چې د خاورو خړ پيکر پرځمکه کېږدي.

۱۳۸۸/۰۷/۱۸
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدرگه ورسره درسته نړۍ راغله
پاچا شته که پکې نشته شړې راغله

له اسمانه په بمونو پورې ښخه
ماشومانو ته ډبله مړې رغله

د غمي غوندې "پاچا" به درنه خلاص کړم
که په گوتو دې ښاماره غرې راغله

په هوا کې ټوپ وهلو ته مجبور شوم
د زينې د سر خوينه پوړې راغله

زما لاس د ورور د مرستې په تور غوڅ شو
د ستا لاس ته له بهره گړې راغله

ستا پر شونډو د ساده غزل شو ختم
غورېدلي د غوټيو کړې راغله.

۱۳۸۸/۰۸/۲۳
حيدرآبا

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــولې چـــې ورو ورو د هېـــوا د لاړې
تــه وا چــې غوښــې مــې پــه بــاد لاړې

مــا مــې لــه زړه نــه ســتا غوښــتنه وکــړه
تــه تــرې نــه ورک شــوې لکــه يــاد لاړې

لاره د مينــــې درنـــه ورکـــه شـــوله
تـــه چـــې پـــه لار د اقتصــــاد لاړې

تــا تــه مــې شــعر د ســتا پــه اړه ووې
مــا تــه دې رانــه کــړو هــېڅ داد لاړې

لـــه خپلـــه ځانـــه ســـاده ووتلـــې
گوښـــې مـــولا تـــه يـــو فريـــاد لاړې.

۱۳۸۸/۰۸/۲۷
حيدرآباد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غزل کې د "پاچا " غوندې فرد راغی !
نه پوهېږمه چې درد ، که په درد راغی؟

د حالاتو ځلور بنې به پخلا شي
که په خونه ایله سیوری د مرد راغی

د ضمیر د عقل سترګې یې ړندې کړې
د ډالر د لېونۍ مینې ګرد راغی

په راتګ یې پاچاهي د سلیمان شوه
د زړه ګوتې ته غمی د لاجورد راغی

د الفت په کمپیوټر کې به دې ګورم
که په ګوتو دې جانانه پاسورډ راغی

نور به څه ګیله ساده له نورو وکړي
چې د دوو مینو منځ کې ناورد راغی.

۱۳۸۸/۰۹/۰۱
حیدرآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې لـه تـا رانـه شـېبې لـه ګټې باسـي
ژونـد پـه ژرنـده د غمیـو ښټې باسـي

د وطـن د غرونـو څڼې یـې کـړې لنډې
پـه مـزه مـزه د لمنځـو سـټې باسـي
مینـه ښـه ده چې د اوښکو بـاران وکـړي
د رګونـو لـه لښـتیو خټې باسـي
د لوېديځ بادونـه راغلـل برېـو کـې شـوې
د افغـان لـه نغـري سـکروټې باسـي
کـه څـوک راشي اپرېشـن د ځینو وکـړي
لـه سـینو نـه بـه یې تـورې ګټې باسـي
چې پـه سر کې یې د سر سرونه یـوو ړل
نـو پـه پـای کې بـه د زړونـو مټې باسـي

د ښـکلا بـاران لـه خدایـه سـاده غـواړه
چې لـه بوټـو نـه پیشـۍ ګـونګټې باسـي.

۱۳۸۸/۰۹/۰۵
د عرفات ورځ / حیدرآباد

هـره شـپه وه اوربلکـه رانـه لاړه
د غمیـو دنیـا ډکـه رانـه لاړه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوا کې بې الوته پاتې شوی
د پښو لاندې پخه ځمکه رانه لاړه
په کارغه باندې مې وار د لېندې وکړ
د سیند ژی وه اخ پتکه رانه لاړه
زه او ته به بیا په ژوند کې پخلا نه شو
که خبره تر ملکه رانه لاړه
ته چې لاړې د گودر د نجونو میرې !
د مچیو سره ټمبکه رانه لاړه
زلزله به دې د زړه په ځمکه راشي
نن که چیغه تر فلکه رانه لاړه
د لېندې په وار مې ویشته خو خطا شوه
د مرگونو مور چورلکه رانه لاړه
زه او ته به زه او ته نه وو جانانه
نه کېسه چې تر ټوپکه رانه لاړه
د ساده د خولې غزله وه بلبله
په رنگ سوې په زړه ډکه رانه لاړه.

۱۳۸۸/۰۹/۰۵حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله د ژوند دي که له ربه شي پرې !
رشته د ده هم د رنه نه به شي پرې؟

که له غمازه تېره ژبه شي پرې
نو ښايي دا چې به مې تبه شي پرې

ته وا مرگی هم بې سببه راځي
ياري د يار چې بې سببه شي پرې

فشار د وينې چې له غمه شي جگ
د زړه رگونه له غضبه شي پرې

دين او مذهب چې د چا مينه شي نو
لاس يې له دينه له مذهبه شي پرې

سترگې دې سرې غزل غزل دې ساده !
تار به دې څنگه له ادبه شي پرې؟

۱۳۸۸/۱۲/۱۲
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسن باغ په مړاوي ګام دی روان
ته وا ساقي په لاس کې جام دی روان

ووې یو چا راته په خوب کې بېګا
د ستاسو کلي نه ماښام دی روان
بام ته راوختې حیران دې کړمه !
ته یې روانه او که بام دی روان ؟
ته مې په زړه، زړه مې په تا شو بدل
اوس مې له یاده د ستا نام دی روان
تاد تندي د منیتهور په پرده
چا ته لیکلی دې سلام دی روان
زړه ته مې شور د مینې راغی پرون
نن مې له ژوند څخه آرام دی روان

ستا د غزل غوټۍ غوړېږي ساده
د بوی پشان ترې نه پیغام دی روان.

۱۳۸۸/۱۲/۱۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غزل ژبه مې ګونګه شوه وېده شوم
ښاپېرۍ پر ما رانګه شوه وېده شوم

د زړګي نرۍ مې ټوله وه درکړې
ستا له یو نظره تنګه شوه وېده شوم

د وصال جنت یې بېرته رانه واخیست
چې مې ښکل کړه غنمرنګه شوه وېده شوم

نه یې زړه نه یې ګلاب راپسې راوړ
نه پوهېږمه چې څنګه شوه وېده شوم

د ساده په لوري نه راځي حیران یم
د ډېوې رڼا بې ننګه شوه وېده شوم.

۱۳۸۹/۰۱/۲۹

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـه پوهېږمـه چـې څـه بـه پـه مـا راشـي
چـې رايـاده شـي مـړه تبـه پـه مـا راشـي

تـه مـې پرېـږده د سـتا ګټـه پـه غـم سـره ده
هـر څـه ښـه دي چـې لـه ربـه پـه مـا راشـي

د توتيـــانو ترانـــې کـــړي الـــوتنې
ماشـومان چـې لـه مکتبـه پـه مـا راشـي

بـې سـببه نـن پـه لار کـې ورتـه ناسـت يـم
ګونـدې نـن خـو بـې سـببه پـه مـا راشـي

د خـدای(ج) لار پـه پټـو سـترګو راتـه ښـيي
راشـي راشـي بـې مذهبـه پـه مـا راشـي

د سـاده د ورځ پـه شـپه پسـې بيـا شـپه وي
خدای(ج) دې وکړي چې بې شبه په ما راشي.

۱۳۸۹/۰۱/۳۰
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځرګنـد چـې لـه زرګونـو څخـه فـرد شـي
پـــه ســـرېو کـــې هـمهغـــه ســـړی مـــرد شـــي

ستا پـه نـام بانـدې چې کلیـک د مینـې وکـړم
رانـه هېـر دې پـه همغـه سـات پاسـورد شـي

د ســـندرو د جینـــۍ راتـــګ ناڅاپـــه
هســې نــه ده چــې یــې مینــه پــه آورد شــي

د ښـــکلا لـــه باغـــه ډکـــه ویالـــه وځـــي
خـو چـې مـا تـه رارسـېږي اوبـه ګـرد شـي

د همـــت اســـم اعظـــم ســـاده پیـــدا کـــړه
چـې دې کـانې پـه ورغـوي کـې لاجـورد شـي.

۱۳۸۹/۰۲/۰۱
حیدرآباد ښوونځی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې رُخي به دې تر پايه پورې نه وي
دغه کار به دې تر خدايه پورې نه وي

د منزل په لور مزل به دې وي پاتې
که تو ښه دې تر خپل ځايه پورې نه وي

محتاجي د محتاجانو بده نه ده
خو سجده چې تر بډايه پورې نه وي

ستا له داده مې غزل واړه قربان شه
خو ارشاد چې تش تر وايه پورې نه وي

د ساده د زړه مارغه به وي بې برخې
که الوت يې تر هُمايه پورې نه وي.

۱۳۸۹/۰۲/۰۲
السلام پلازه / خوست ښار

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دې وړی نه په خوښه نه په زور دی
خدای(ج) درکړی خدای(ج) پوهېږي د خدای(ج) کور دی

شپه پخه شوه وسپنيزه بلا راغله
په وزرونو کې يې پټ راوړی اور دی

لاس مې واخله لاس دې ډک له مينې راکړه
په دې کار کې نه گناه شته نه پېغور دی

په هر لوري يې د سرونو لوگه کړی
په هر لوري يې اچولی د مرگ لور دی

نوی نوی د کتاب په بڼه راغی
د سندرو په صورت کې ساده خپور دی.

۱۳۸۹/ ۰۳/ ۱۵

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن دی ښه او که نا ښه د پاچا وخت دی
پته نشته چې سبا ته د چا وخت دی

ته په وخت که وخت په تا پسې روان دی؟
نه پوهېږم ته د وخت، که د ستا وخت دی !

هر یو تن زموږ د سیمې پوره من دی
هر یو تن وایي چې نن خو زما وخت دی

چې تیاره شي د تیارې جامې اغوندي
چې رڼا شي وایي ځه د رڼا وخت دی

د ساده د ګرېږ ستنې دي خرابې؟
که راتګ د ښکلي یار ته یې لا وخت دی !

میزان/۱۳۸۹

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــــه د عقــــل منـــــاره درپســــــې لاړه
نــــو بـــې شــــمېره زمانــــه درپســــې لاړه

تــــه بخيــــل وې خزانــــه دې هــــم بخيلــــه
تــــه چــــې لاړې خزانــــه درپســــــې لاړه

چــې ارمــان مــې شــو خپــه درپســې ومـړ
چــې مــې هيلــه شــوه خپــه درپســې لاړه

نــه وختونــه نــه بختونــه دي راپــاتې
بختـــوره ! زمـــوږ شـــپه درپســـې لاړه

د اختــر پــه خېــر بــه را پــه مــا ســاده شــې
چــــې مــــې مينــــه وه روژه درپســــې لاړه.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مــې ســم د رپســـې ووت
لکـــه نـــم د رپســـــې ووت

تــه بــه نــه وې پــه جنــت کــې
چــــې آدم(ع) د رپســــې ووت

بُتخانــه بــه شــي ويجــاړه
کـــه صـــنم د رپســـې ووت

حال مې پټ او حال دې پټ و
لـــه قلـــم د رپســـې ووت

دم پـــه دم ســـاده ورکېـــږي
دم پـــه دم د رپســـې ووت.

۱۳۹۰/۰۴/۲۱
خواجه متون غونډۍ/ خوست.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لېونی شوم نه هوښیار پاتې شوم
لکه پښتون د ژوند په لار پاتې شوم

لاس دې راوړد کړو خو د بکه دې کړمه
د اور په منځ کې بې قرار پاتې شوم

چړې تېرې مرمۍ تودې رادرومې
زه ورته ناست په انتظار پاتې شوم

ستا د ظلمونو د ګمرک له لاسه(۱)
ډک د سودا تړلی ښار پاتې شوم

سرونه سل د اقتصاد د ښامار
ساده يې ټک ته وار په وار پاتې شوم.

۱۳۹۰/۰۴/۲۷
خواجه متون غونډۍ/ خوست.

(۱): په دې ورځو کې د لوړګمرک له لاسه د خوست ښار دوکاندارانو د احتجاج په توګه خپل دوکانونه تړلي و.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــه تــا نــه پــور تــه مــزل
نشـــته بــل لــور تــه مــزل

لــه گرانــو گــران دی اشـــنا
اوبـــو کـــې اور تـــه مـــزل

یمـــه بهـــر تـــه روان
لنـدېږي کــور تــه مــزل

ستا پــه الفـت کـې چـې وي
خونـد کـړي هـر لـور تـه مـزل

وې بـــه د بـــل پـــر اوږو
کـــوې بـــه گـــور تـــه مـــزل

غـــوارم پـــه اور کـــې ســـاده
هـــر وطـــن پلـــور تـــه مـــزل.

۱۳۹۰/۰۵/۲۸
نولسمه روزه/ حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځان پوی نه شم فساد راباندې وشي
چې خبر د اقتصاد راباندې وشي

زه یې ځان ته نوی مرگ د ځان حساب کړم
چې ناري د زنده باد راباندې وشي

لویه خدایه ستا له هر رحمته ځار شم
خو رحمت که د سواد راباندې وشي

نه به ځوان نه به جینۍ شم خدای(ج) دې خیر کړي
که کاني د دې بِلاد راباندې وشي

په دې پوی شم چې مې زور د خپل غزل دی
چې غږونه د ارشاد راباندې وشي

په خپل ژوند به زه ساده پښېمان نه شم
که د خیر نوی نهاد راباندې وشي.

۱۳۹۰/۰۵/۲۸
نولسمه روژه/ حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه مې د ژوند په اره مه پوښته
بند کې مې د بند په اره مه پوښته

خپل که پرې ویده وې نو به پوی وې پرې
خوب او د مړوند په اره مه پوښته

زهر یې ګډ کړي وي په ګوره کې
پرې مو رډه د ګوند په اره مه پوښته

لاس کې دې ربموډ د توغند یو دی
خلک د اوربند په اره مه پوښته

تا ته به د خپلې خولګۍ پته وي
ما نه یې د خوند په اره مه پوښته

ځار یې له تپې نه زه ساده شم خو
اوس یې د میوند په اره مه پوښته.

۱۳۹۰/۰۵/۲۸
نولسمه روژه/ حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه پــوهېږم چــې بــه حــق وي کــه باطــل؟
هر مريد ته چې خپل پير ښکاري کامل !

هــر ســړی کــه وي کامــل کامــل کامــل !
نــو بيــا څــه شــو پــه دا چــاره کــې جاهــل؟
د زړه لوښــی يــې چــې ډک شــي لــه کــوم چــا
کــه جاهــل وي خــو ګڼــي بــه يــې کامــل !
چــې کامــل وي د کامــل پــه کــار وي پــوه
هــر قــدم يــې وي لــه شــرعې نــه حاصــل
کــه مــو پيــر دی پــه اوهــامو کــې راګيــر
خــو مُــلا مــو د کېســيو دی ناقــل
کــار د شــرعې نــه کېســی دي نــه اوهــام
پــه دې کــار کــې بريــالی بويــه عامــل
نــا پوهي د مريــدانو وي د پيــر
څــه بــه زده کــړي لــه ناقصــه لــه جاهــل

خــود بــه لــومې د ابلــيس راوړي ســاده
کــوم يــو کــار چــې لــه فســاده وي حامــل.

۱۳۹۰/۰۲/۱۲
دهېوادپال ځواک دفتر/ خوست ښار.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه دې څـوک راتـه ضـامن شـي د لېـدلو
لاس و پښــې یــې دي ربښــتیا د ښــکلولو

د ویـده جهـان لـه خوبـه مـې زړه تـور شـي
چــې راویښ پــه ترانــو شــم د بلبلــو

د وجــود لــه اقتصــاده یــم پــه تېښــته
چــې فتنــه یــې ده مغــزو تــه پــه ختلــو

چې مـې یـار د سـر پـه سترګو نـه ښـکارېږي
زه بــه نــورې ســترګې غــوارم د کتلــو

د اورلیکـې یـې تـاو کـړې پـه هېـواد کـې
نـه مـو ژونـد شـته نـه مـو لاره د وتلـو

رنـګ پـه رنـګ دې سـاده ګـوري نـه پـوهېږي
رنــګ دې ورکــړه د خپــل رنــګ د پېژنــدلو.

۱۳۹۰/۰۷/۰۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې روانه وي فتنه ګرځي پرځمکه
د ګنګا يوه څپه ګرځي پرځمکه

د يو چا څاڅکي اوبه ګرځي پرځمکه
د يو چا وتلې زړه ګرځي پرځمکه

نه يې زلفې نه يې مخ راته ښکاريږي
نه رڼا شته نه تياره ګرځي پرځمکه

په حالاتو کې چې څرک د پښتو نشته !
څوک به څه وايي چې څه ګرځي پرځمکه؟

هم به ځمکه هم به لمر هم به سپوږمۍ وي
چې ترکومه پښتانه ګرځي پرځمکه

که ته وايې، چې ساده دې په هوا ځي،
ښه ده ښه ده نور به نه ګرځي پرځمکه.

۱۳۹۰/۰۷/۰۴
څړبنی/ کلی

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بخرې د ادب په تا کې نشته
د رښا دغه سبب په تا کې نشته

بې پروا د بل په پل باندې روان یې
ته وا کار دې د خپل رب په تا کې نشته

نه دې ټنده نه دې مخ چا ته بدلېږي
د ژوندي په څېر غضب په تا کې نشته

بې ترتیبه د سېلاب غوندې بهېږې
د ویالې غوندې قالب په تا کې نشته

د اوهامو په رنګ، رنګ دې ساده ورشه
ورته وایه چې مشرب په تا کې نشته.

۱۳۹۰/۰۷/۱۳
د صاحب ګل فرهاد هجره / کټاسري کلی / خوست

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې نشته په وجود کې
زړه مې تـه يې پـه کـالبود کې

د الفت پري مې رام کړه
د لونګو پـه شـنه دود کې

کـه لـه نشته يې زه شته کړم
زه خو شته وم پـه نـابود کې

فرق بـه څه وي د دوو سترګو
د شيانو پـه شُهود کې

څوک بـه څـه وکـړي جـابره
فرق پـه تـا او پـه نمرود کې؟

د ساده لـه خولې راوځي
د حالاتو پـه سُرود کې.

۰۵/۰۸/۱۳۰۹
حيدرآباد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم مې زړه هم مې وجود ورپسې ژاړي
په رکوع او په سُجود ورپسې ژاړي

د باران وريځ ترې جوړه شي وربېږي
سمندر چې کوي دود ورپسې ژاړي

په سبا يې اسويلی باد سبا شي
له ماښامه وايي درود ورپسې ژاړي

نه پوهېږم چې به څه وخت سوله راشي
د هېواد ملي سُرود ورپسې ژاړي.

د مينو په نصيب ساده ژړا وي
که تاوان يې وي که سود ورپسې ژاړي.

۱۰/۰۸/۱۳۹۰
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنیا له ژونده تنګ درپسې راغلم
لاس دې راکړه چې ملنګ درپسې راغلم

د ګلونو د لمبو له اوړو وتی
نه بورا یم نه پتنګ درپسې راغلم

د رنګونو سرچینې لمره راخېژه
زه بې رنګه رنګ په رنګ درپسې راغلم

د ژوندون له جګو ټیټو راتېر شوی
په غورځنګ غورځنګ غورځنګ درپسې راغلم

چې ستاینې دې ساده کړمه بې ژبې
اوس په ژبه یمه ګونګ درپسې راغلم.

۱۳۹۰/۰۸/۲۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېلتون کې د زخمي زړه آرام شعر دی
بس له دې نه شوه مالومه الهام شعر دی

داسې نه ده چې دې هر سړی ولي شي
داسې نه ده چې د هر چا کلام شعر دی
ستا په سترګو ستا په شونډو اننګو کې
را نغښتی د رنګونو پیغام شعر دی
بې پوښتنې بې خبره زړونه یوسي
په نظر کې د ګل مخیو اِبهام شعر دی
غم دې توره د کړو حالاتو ویستې
خدای(ج) راکړی د دې تورې نِیام شعر دی
څوک په لاس کې له نکامه ستوري نه وړي
ستا نظر د بدشعارو نکام شعر دی
زه په خپله د قام سترګې د قام خوله یم
چې راغلی مې په ژبه د قام شعر دی
بې حسابه د لاهوت ساقي راکړی
د رنګونو له چینې نه د جام شعر دی

جنتي بادونه الوزي په ګلو
په سپرلي کې سهار شعر دی ماښام شعر دی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما ښام کې له سپوږمۍ سره هم رنګه
راختلې مخ تبانه، پر بام شعر دی
د مانا د فکر شات يې دي راوړي
نن راغلی د مچيو په نام شعر دی
مورو پلار د کايناتو آدم راغی
پيدا شوي ترې نه هر څه تمام شعر دی
بې رديفه بې قافيې په وزن راغلې
په ښکالو کې دي ګډ شوی د ګام شعر دی
په تاثير په ځانګړتيا او په ښکلا کې
ټول ادب يې مقتدي دی امام شعر دی

رنګ و ښه يې بدل شول ساده پربږده
ته خبر يې؟ چې په ښار کې ليلام شعر دی.

۱۳۹۰/۱۱/۱۷
حيدرآباد

هر ما ښام راځي په روژه ماتي کې
وي جوړه څرخي په روژه ماتي کې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله دي که خپل یار ته روژه ماتی کړ
خدای(ج) به کړي راضي په روژه ماتي کې

پام دې په بې مغزه احساساتو کړه
وینې بهیوي په روژه ماتي کې

هره دعا سوله سوله کړه
خدای(ج) یې قبلوي په روژه ماتي کې

زړونه د گلاب غوندې راوتوکي
راشي پسرلي په روژه ماتي کې

زه او د ساده په نوم وجود مې هم
ستا پشانې وي په روژه ماتي کې

۱۳۹۱/۰۵/۰۴
شپږم روژ ماتی / حیدرآباد

چې په موږ باندې راغلی څه عذاب دی؟
انقلاب دی انقلاب دی انقلاب دی!

ستا د غوښې د هډوکو هر بخری
بې خبره له گناه هم له ثواب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوښمن لـه دوښـمنۍ مـې ويـره وشـي
نه په خدای(ج) نه په رسول(ص) نـه پـه کتـاب دی
د ملګـرو ګمراهــۍ پــر ســر اخيســتی
وايــي دا خــو د ملګـــرو انتخــاب دی
چـې بـارود پکـې د وينـې پـه نـوم ګرځـي
د دې ګرځنـــده بمونـــو څـــه ځـــواب دی؟
ســتا د وســپنې پـــه ګرځنــده کوټـــه کــې
ژونـد راغلـی پـه تـا ډېـر خانـه خـراب دی
زه مـــې ســـاندې د ادې پـــر مـــړي کانـــدم
ده سُــر کــړی زمـــا ســاندو تــه رببــاب دی

د ســـاده د شـــعر نـــری بـــاران وريـــږي
راختلـــی پـــرې د بـــره نـــه افتـــاب دی.

۱۳۹۱/۰۵/۰۸
لسم پېښنمی/ حيدرآباد

نـور نـو هـر څـه تـرې نـه هېـر شي
ستا پـه يـاد کـې ستـا پـه څېـر شي

د انکـــار پـــه تـــوپ يـــې ولـــي
کـــه د "ببـــتې" پـــه دعـــا ډېـــر شـــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه کــه ســل ځایــه ټــوټې وي
پــه دیــدن د یــار کوشــېر شــي
پــه گــردو کــې ســره ورک شــو
چــې دوه ځرخـی پــر مــوږ تېــر شي
چـــې د بـــل پـــه لاره درومــــي
کـــه دې ورور وي لـــه تــا غېــر شــي
د وطـــن هوســـۍ بـــه څـــه کــړي
چــې زمــري تــرې نــه چــا پېــر شـــي

عقـــل بـــه دی ســـاده بـــه دی
خــو چــې زور یــې پــر زور تېــر شــي.

۱۳۹۱/۰۵/۲۱
یویشتم پیشنمی
حیدرآباد

د آزادۍ بـــلال خپـــه دی ســـوله چرتـــه راځـــي
سرکار پــه کــار کــې سرچپه دی سوله چرتــه راځــي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د ښکلا لېونۍ سترګې په کېسه پوهېږي
نه محبت په اندازه دی سوله چرته راځي

د جنګیالي مېلمه له سره مو هر څه لوګی کړل
اوس مو یو بل مېلمه کوربه دی سوله چرته راځي

کبر یې ګوره د اسمان هسکې ماڼۍ ته رسي
هر یو جابر په من پوره دی سوله چرته راځي

ما مې ریبار ته واک توی وړی له خپل ځانه ورکړ
خو یار مې ووې چې ساده دی سوله چرته راځي.

۱۳۹۱/۰۷/۲۸
حیدرآباد

د انسان په وینو پایي، له ډوډۍ نه یې روژه ده
دغه څه ډول روزګار دی، دغه کومه پروژه ده

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د سترگو کېسه وشوه، زړه زما ټپي ټپي شو
خبریال وې چې رادرومې، د خبر نوې سوژه ده

له دې ځمکې څخه لاندې، د رڼو اوبو هنداره
ما ته، ته پکې ښکاره شوې، لگولې مې سجده ده

نن به یار په لاس رادرومي، نن به ورځ د لوی اختر وي
چې په گوته مې د گوتې، ځلېدلې فروزه ده

اوس به څنگه بې له تا نه، د ساده وختونه تېر شي
ته چې لاړې پر ما گرانه، دربېدلې زمانه ده.

۱۳۹۱/۰۸/۰۲
حیدرآباد

لرې لرې له اسمانه دلته راغلم
ته خبر نه یې جانانه! دلته راغلم

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزر پرانیزه ما پټ که، چې ژر پټ شم
پربښــته یـې، لـه شـیطانه دلتـه راغلـم

ما وې تاسې به یو بل خو سره نه خورئ
ښــا پیریو لــه انســانه دلتــه راغلــم

تــه خــو دلتــه راپســې یــې زمــا ځانــه
زه لــه تانــه زمــا ځانــه دلتــه راغلــم

نــن پــه خــوب کــې یــو ملګــري راتــه ووې
پــس لــه مرګــه پښــېمانه دلتــه راغلــم

شــکایت بــه زه ســاده لــه تــا نــه څــه کــړم
نــه پــوهېږم چــې لــه چانــه دلتــه راغلــم.

۱۳۹۱/۰۸/۰۲
حیدرآباد

پـــه زړه مـــې پـــورې وورې تـــار ووت
چـــې دې لـــه زلفـــو نـــه یـــو تـــار ووت

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرخونه جګ سودا يې ونه کړله
خالي لاسونه له بازار ووت
منې مرغۍ له ونو وشړلې
په ګوډو ماتو پښو بهار ووت
ځوان د يو څو خولګۍ ډوډۍ په موخه
ټوپک په غاړه له بل کار ووت
ته د اسمان د ښکلا ناوې راغلې
له کلي کډه شو سنګار ووت
زه پېښوری شو پېښور ته روان
زه په اټک او دی په غار ووت

فکر جابر ته ساده وړی يمه
سر ته يې ګوره په دستار ووت.

١٣٩١/٠٨/١٣
حيدرآباد

ګرانه هېڅ به مې له لاسه نه ووځې
چې مې داسې له احساسه نه ووځې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پــردو پــه محبـت کـې لېــونی شــوې
د پـــردو لـــه اختلاســـه نـــه ووځـــې

سـترګو شـونډو اننګـو تـه دې چـې ګـورم
د ګلونـــو لـــه جواســـه نـــه ووځـــې

چې مابنـام شي کـوخې ډکې لـه بلا شي؟
کـه نـه هسـې لـه وسواسـه نـه ووځـې !

د ښــکلا اوبــه دې ســپینې پکــې بریښــې
د وجــود لــه ســپین ګېلاســه نــه ووځــې

لــه هغــې کــه بــې خبــره ســاده راغلــې
خــو لــه دې بــه بــې تماســه نــه ووځــې.

۱۳۹۱/۰۸/۱۳
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړی - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــر څـــه ولاړ دي خـــو فســـــاد روان دی
پـــــه نامـــــالوم لـــوري هېـــواد روان دی

وړي مـــو د زېـــړو زېـــړو پـــانو پـــه څېـــر
منـــــی راغلـــــی ســـــپېره بـــــاد روان دی

ســـپی د لېـــوه ســـره اړيکـــه نيســـي
ملـــــي ملنـــــګ تـــــه اتحـــــاد روان دی

تـه مـې د روح پـه څېـر پـه تـن کـې اوسـې؟
کـه مـې پـه زړه کـې د سـتا يـاد روان دی

لا مـــــې فتـــــوا د هنـــــر پـــــاتې ســـــاده
لا مـــې پـــه شـــعر کـــې اجتهـــاد روان دی.

۱۳۹۱/۰۸/۳۰
د کابل او خوست پر لاره

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ژبه زده کړه
یوي مه کړه "

ځان خوشاله
بل خپه کړه
د بې وسو
لار سپېره کړه
سپینه ورځ دې
توره شپه کړه
هره چاره
سرچپه کړه
تا خو جوړه
ننداره کړه

ازموینې
په ساده کړه

۱۳۹۱/۰۹/۱۵
د راولپنډۍ او کوهاټ پر لاره

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هـــډوکو لـــه اربـــانې پـــه وتـــو يـــم
لکــه نـــم لـــه دغـــې پـــانې پـــه وتـــو يـــم

د وحشـــت موســـم بـــې وختـــه دلتـــه راغـــی
زه خبـــر شـــومه لـــه زانـــې پـــه وتـــو يـــم

د وطـــن ميـــوې بـــارودو ترخـــې کـــړې
نـــورنـــو نـــه خورمـــه بېکيـــانې پـــه وتـــو يـــم

وړي مـې وړي مـې انسـانانو تـه ور وړي مـې
پـــه وزرو کـــې د کوتـــانې پـــه وتـــو يـــم

تکـــی تکـــی بـــه ســـاده شـــم درنـــه پورتـــه
وي بـــه پـــاتې ســـپينې پـــانې پـــه وتـــو يـــم.

۱۳۹۱/۰۹/۱۷
حيدرآباد/خوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینو څاڅکي راځي، نه چې باران وربېږي
زموږ له لاسه ږلی، تل په حیوان وربېږي.

ځمکه سیندونه کاندي، د جدایۍ برا سونه
ستا د لیدو په ارمان، شینکی اسمان وربېږي.

راځه چې ورشو نږدې، دا به مالومه شي نن
چې کاڼي ووري پر چا، پر چا ګلان وربېږي.

زلفې لامدې وې لامدې، لامدې سېلۍ کړې لامدې
زه شوم خطا ورخطا، ما وې ماران وربېږي.

تا خو لېدلې ساده، جړی د ژمي جړی
په زړه مې داسې مدام، جانان جانان وربېږي.

۱۳۹۱/۰۹/۲۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په زړه کې مې ورک شوی، د فکرونو تفهم دی
په وجود کې مې راغلی، تصادم دی تصادم دی

د سازونو په نړۍ کې، ګډوډې شوه ګډوډې شوه
مطربانو اوریدلی، ستا د مینې تکلم دی

پر اوږو مو د وریځو، تورې زلفې راخورې شوې
د ځنګلونو شغشغی دی، د سیندونو ترنم دی

تغزل دې د سرو سترګو، له بڼو نه زبېږېدلی
تل دې کړی پر کمزورو، شاعرانو ترحم دی

نیمې نیمې د ژندون مې، ساده ټولې راپوره شوې
چې پرون یې راته کړی، یو نیګړی تبسم دی.

۱۳۹۱/۱۰/۰۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــورو ســترګو دې زه دومــره پــه عـذاب کـړم
اوس له ښکلو نه پـه هـر ځـای کې حجـاب کـړم

مــا د کلــي پــه بلبلــو کــې ګڼلــې
تــا د کلــي پــه مــارانو کــې حســاب کــړم

ټکــی ټکــی مــې زړګــی دی راټــول کــړی
یــوه ورځ بــه یــې پــه تــا پســې کتــاب کــړم

دومــره بــریښ د محبــت خــو رالــه راکــړه
چې د سترګو بریښنالیک دې پـه خـوب کـړم

نــن یــې ووې ســاده دومــره ګلابــي یــم
چې پـه شعر کې بـه دې شـین د زړه ګـلاب کـړم.

۱۳۹۱/۱۰/۱۸
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تږی زړه مې دی په لاس کې، اوبه نشته
ستا د مینې په ګېلاس کې اوبه نشته

قحط راغلی د سړیو دی که خنګه؟
د وګړو په احساس کې اوبه نشته !

د ګلونو وچې پاڼې هوا یووړې
د روحونو په جواس کې اوبه نشته

د مانا نیالګي به څنګه زرغونه شي
د خبرو په قیاس کې اوبه نشته

وچکالي ده د پښتو د کتابونو
د ساده په اقتباس کې اوبه نشته.

۱۳۹۱/۱۲/۰۳
د مورنیو ژبو نړیواله ورځ
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د وخت د کارونې ورتیا نشته
بس په لاس کې مو ګړۍ ته اړتیا نشته

په نصیب کې دې ناصحه بوختیا نشته
په نړۍ کې ستا په شانې لیا نشته

نن دې داسې یو بې پامه عادت وکړو
لکه هېڅ دې چې د مینې تابیا نشته

د منصور (رح) په زمانه کې یې دار نرخ و
مګر اوس خو په دې بیه وړیا نشته

یا خو زه لکه هوا د برېښوکۍ یم
یا قرار په دې روانه دنیا نشته

په وجود کې دې برېښنا ساده روانه
ځراغونه ترې نه بل کړه چې بیا نشته.

۱۳۹۱/۱۲/۱۸
جمعه
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت مې جوړ کړو بت مې وران کړو بت خو نشته
پسې ګز مې ټول جهان کړو بت خو نشته

چې آدم(ع) له خاورو راغی خاوره څه شوه؟
دغه لوښی څه انسان کړو؟ بت خو نشته

ننداري ته دې ولاړ ومه بې روحه
تا د بت پر ما ګمان کړو بت خو نشته

په ډ ښکاول کې دې څو مره رنګ راوړی!
په ککړ دې لکه ځان کړو بت خو نشته

د یوسف(ع) له خدایه ګران دی پټپټونی
زلیخې یې مخ پنهان کړو بت خو نشته

بت خو ښه دی چې دې راز ویلی نه شي
خو ساده ته دې بیان کړو بت خو نشته.

۱۳۹۱/۱۲/۲۰
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس په دې شوې معتبرې اروا ګانې
چې له ځانه شوې خبرې اروا ګانې

د ژوندون په واټ یې سرې اشارې بلې
دي ولاړې مغرورې اروا ګانې
په هنداره کې هنداره وه هنداره
مخامخ وې برابرې اروا ګانې
چې د حضر(ع) د یارۍ په شان پوهېږي
له دریابه وې ژورې اروا ګانې
بې وجوده یې تو پیر د مینې نشته
خو په پوهه کې وې نرې اروا ګانې
چې نیوکې یې د حضر(ع) په مستۍ وې
وې معصومې پیغمبرې اروا ګانې
د خپګان سمندرونه په کچکول کې
رایسار کړي قلندرې اروا ګانې

ته او به شه ساده لاره پکې وکړه
که راولوېږي ډبرې اروا ګانې.

۱۳۹۲/۰۱/۰۳
حیدراباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نڅا دې د خبرو ارواگانې
په گډا کړې د ډبرو ارواگانې

په هنداره کې هنداره وه هنداره
مخامخ وې د دلبرو ارواگانې

خدایه څومره به وي تنگې په وجود کې
د لوپرو جورگرو ارواگانې

سپینې غاړې ته دې پورته راختلې
د دریاب د مرغلرو اوراگانې

که رانه شې نو په تا پسې گلابه !
په وتو دې د سندرو ارواگانې

د لکونو په دسمال کې یې کړې غوټه
د جانان د پیغمبرو ارواگانې

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د /کــاروان/ د مینــې لپــو پســې گرځــي[۱]
د مَینکـــــو د تنځـــــرو اروا گـــــانې

لکــه پړکــې راځرگنــدې شــي بیــا ورکــې
د هنـــــر د تنـــــګ نظـــــرو اروا گـــــانې

لــه ساده سره پــه خوب کې هم پــه ویښــه
دي همکــــارې د ملگـــــرو اروا گـــــانې.

۱۳۹۲/۰۱/۰۴
حیدرآباد

(۱) : پورتنی بیت د ښاغلي کاروان د لاندیني بیت په تاثر کې لیکل شوی:
مرغان دې راشي زمونږ لپو کې دې ځالي وکړي
غرمو نښتر نه لري کلی مو چنار نه لري.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نن" چې د "پرون" په تناره کې شو
زړه زما زرغون په تناره کې شو

ښکل يې د لمبې پر پاکه ژبه کړه
بل چې د بېلتون په تناره کې شو

ژوند يې د ډوډۍ په ښه ووېشه
سکور يې که سکون په تناره کې شو

مور ته يې لمبې را پورې کړې وې
خپل يې نن ژوندون په تناره کې شو

وار دی په غزل کې د جينۍ ساده
وار چې د مضمون په تناره کې شو.

۲۴/۰۴/۱۳۹۲
اووم پېشنمی
حيدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نظر یې هم د زړه له سترګو توی شي
د وربسترګو دې بانه له سترګو توی شي

چې نه کسی نه لېمه او نه بانه وي
څوک به څرنګه په څه له سترګو توی شي

که اخته زمونږ په خبر شي په دردونو
اوښکې اوښکې به دې زړه له سترګو توی شي

څه احساس د انسانیت که ورسره وي
نو هم اوښکې د ړانده له سترګو توی شي

هنرونه د نظر د جنګ ورزده کړه
ساده نه چې یې رانجه له سترګو توی شي.

۱۳۹۲/۰۴/۳۱
۱۴ پېشنمې
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر نظر یې زما زړه پرېوځي
له غتو سترګو یې بانه پرېوځي

که په میدان کې چېرته نه پرېوځي
د مېز له مخې پښتانه پرېوځي
لمونځ مو قضا شو ته په خبر شې اشنا
د غرونو سر ته شو غارمه پرېوځي
مینه مې هم دومره کمزورې نه ده
چې له حیا نه یې لېمه پرېوځي
دی د فساد په کوم مقام کې انسان؟
د شر په غشي یې مارغه پرېوځي

"هغوی" خو وایي چې روان یوو ساده
مګر "پاچا" وایي پاخه پرېوځي.

۱۳۹۲/۰۴/۳۱
۱۴ روژه
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړګي په درد اخته شې چې دې زده شي
په يو چا پسې خپه شې چې دې زده شي

چې دې نه زده خو ګيله هم درنه نه کړم
ته خو لا هم سرچپه شې چې دې زده شي

بې ترتيبه بتخانه شوه درنه جوړه
ما وې ته به مو کعبه شې چې دې زده شي

شور و شر به دې رښا په مخه يوسي
په آرام به لکه شپه شې چې دې زده شي

له دې مخکې ګوره زه هم لکه ته وم
ته به هم لکه ساده شې چې دې زده شي.

۱۳۹۲/۰۵/۲۲
حيدرآباد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې لـه تـا نـه مـې مقصـد نـه پـوره کېـږي
د نیمګـړي ژونـد فیصـد نـه پـوره کېـږي

بـې منصـوره دې تعریـف راتـه مشـکل و
بـې پانسـۍ د مینـې حـد نـه پـوره کېـږي

بـې ازلـه نـو بیـا څنګـه دلتـه راغلـم؟
بـې ازلـه خـو ابـد نـه پـوره کېـږي !

خلک وايي چې يې ښو تـه تمـه مـه کـړې
چـې لـه لاسـه زمـا بـد نـه پـوره کېـږي

کـه د پټـې نـامې ټکـي دې ور نـه کـړل !
د سـاده د زړه ابجـد نـه پـوره کېـږي.

۱۳۹۲/۰۵/۲۷
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیال پلو په مخه کړې، چې نړۍ په غم اخته ده !
که رښتیا د غریبانو، د مړۍ په غم اخته ده؟

د شپانه میرمن د مېړو، په شېدو ده ناوزګاره
د شپانه ادې د مېړو، د وړۍ په غم اخته ده

بې له یاره بې له کاره، نو پاچا د څه لپاره؟
د پاچا ډلګۍ پرېشانه، د شړۍ په غم اخته ده !

نه مړه کېږي نه خلاصېږي، نه ناري د اخ کوی شي
بې چاره جینۍ په ژبه، راکوړۍ په غم اخته ده

د ساده د هېواد سوله، نړېوا له سندرغاړې
په مړۍ ګوزڼ وهلې، د غړۍ په غم اخته ده.

۱۳۹۲/۰۲/۰۲
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـــو پښـــواني مقـــام تـــه ورســـيدم
د لېـــوني مقـــام تـــه ورســـيدم

تـه چې رايـاد شـې زه دريـاد شـم لاسـي
ســـتا د زړګـــي مقـــام تـــه ورســـيدم
اوس بـه بيخـي لـه برمـه نـه غـورځېږم
اوس خـــو بيخـــي مقـــام تـــه ورســـيدم
پـــوی د مـــلا پـــه ستره خبټهـه شـــولم
چـــې د چـــوټي مقـــام تـــه ورســـيدم
نـــن پرېښـــتو راتـــه سـجدې کـــولې
نـــن د ســـرې مقـــام تـــه ورســـيدم
ســـتا د وربـل څوکـه مـې خپلـه کړلـه
چـــې د ببـــري مقـــام تـــه ورســـيدم

دا درتـــه چـــا وې چـــې دروغ دي ســـاده
د جنتـــي مقـــام تـــه ورســـيدم.

۱۳۹۲/۰۲/۲۳
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــور لتهــوي څــه پــه ګلابونــو کــې؟
ورک دی تربنــه زړه پــه ګلابونــو کــې !

پــټ دې پــه فطــرت کــې لکــه بــوی ومــه
داســې لکــه تــه پــه ګلابونــو کــې
لــرې کــړه پــردې افکــار لــه زړه او ســر
مــه پرېــږده وابنــه پــه ګلابونــو کــې
چــار چــاپېر يــاران رانــه چــاپېره دي
ژونــد کومــه زه پــه ګلابونــو کــې
ټيــټ يــې کــړل بانــه پــه اننګــو بانــدې
تــوی يــې کــړل رانجــه پــه ګلابونــو کــې

نــن يــې د ســاده پــه اړه وويــل
غــواړې رانــه خولــه پــه ګلابونــو کــې.

۲۷ سنبله ۱۳۹۲
حيدرآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زخمي زړونو ډاکټره مسته پیره
جار دې جار دې له نظره مسته پیره

شیطانان مې نابېره له زړه ورک شي
چې را یاد شې نابېره مسته پیره
بیا خو ته لکه غمی د سلیمان یې
که پوره مې شې خبره مسته پیره
په خبرو کې بې ژبې غلې ناست وې
خاموشۍ کې ژبه وره مسته پیره
نه ملا یې نه صوفي د باطلانو
خدای ساتلې یې له شره مسته پیره
بندګي دې په نصیب ده بزرګي ده
امتي د پیغمبره مسته پیره

د مودو تندې وهلې ساده راغلم
که مې بوځې ترګودره مسته پیره

۲۸ سنبله ۱۳۹۲
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځوانۍ کې به هنداره راسره وه
بس په جیب کې به تیاره راسره وه

ته که نه وې خو په ښو دې روان وم
په قدم قدم دې لاره راسره وه
په سبا کې یې د لمر جامې پر تن کړې
په تیاره کې تر سهاره راسره وه
د ژوندون په تنهايۍ کې زما مینه
ستا تر دره زما یاره راسره وه
په ثلورکونجه دنیا کې مې ځای نه و
دومره وېره له قهاره راسره وه

امانت مې ساده ببرته ازانګې کړه !
د طبعیت یوه کوکاره راسره وه.

۲۹ سنبله ۱۳۹۲
جمعه
حیدرآباد

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښېره کې دې خطر وینم رقیبه !
دوښمني د پیغمبر(ص) وینم رقیبه !

نن به بیا وي له ازغیو لارې ډکې
چې ترخنګ دې د ګودر وینم رقیبه !
اراده دې پلې شوې په وطن ده
کربلا وینم محشر وینم رقیبه !
ویني ویني هغه ځمکه چې پرې دې رومې
په قدم کې دې ضرر وینم رقیبه !
د دوو ورونو دوښمني دې کړله ډېره
چې کابل او پېښور وینم رقیبه !
خلکو هسې ناپوهي په خره تپلې
لږ دې اېخوا هم له خر وینم رقیبه !

د ساده په رقابت کې ځان خبر کړه
د اور پنډې دې پر سر وینم رقیبه !

۲۷ سنبله۱۳۹۲
جمعه
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیتونه

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هجر شپه د وصال تنده اشنا
څنګه به خلاص شم له دې بنده اشنا

شیطان د مینې خوند په بده وهي
مینه د چا مه شه بې خونده اشنا

خدای(ج) د رکړې د زړګي په نوم دېوه ده
تیل د مینې پکې واچوه چې شپه ده

نړیوال مو دي په سقاط پسې راغلي
په ژوندوني مو روانه جنازه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستـــرګې پېرمـــه زړګـــی وربانـــدې پلـــورم
د ســـودا لپـــاره ښـــکلی ســـړی ګـــورم

فلسفې مې راتـه خدای(ج) پـه ځـان کې وښـود
ځان مې ورک دی اوس په ځان پسې مې ښورم.

حیرانـــي پـــه محبـــت کـــې ایلـــه ســـر دی
خپـل بـه پـوی شـي پتـی وروسـته سـورور دی
چـې خبـر وي، لـه خپـل ځانـه نـا خبـر وي
چـې لـه ځانـه ځـوک خبـر وي،نـا خبـر دی
هـــر بېګـــا او هـــر ســـباد یـــار ســـلام کـــړي
پـه اسـمان کې کـه قمـر دی او کـه لمـر دی.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره دي که پوره کړلو د سترګو اعتکاف
نظر به دې بيا بند نه کړي د وسپنې غلاف

منزل ته رسيدل دي که په نيت کې وي ساده
مستقيم لکه الف او سه قوي شه لکه قاف.

د زړه صبر دې په خدای(ج) او په قرآن شه
د ښکلا ملنګه مينه دې باران شه

چې خورې يې د مانا وږمې وږمې شي
د خبرو بڼ دې شنه او سره ګلان شه.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فنکـــــار د ښــــکلي ذهــــن انعکــــاس وي
پــه تصـويرکـې هـم د خپـل وجـود احسـاس وي

د کــوم فکــر د وحــدت مخــه چــې ډب شــي
د شـــيانو اند ښـــــنې وي او وســــواس وي.

تېـرې څـوکې يـې غـوټۍ کـړې، گلابونـو اروا گـانو
پــه اغــزو کــې شــئ داخلــې، د گلونــو اروا گــانو

بې خوبي د وطن ډېره، سترگې سرې د ځمکې گرځي
لــړ يــې ولمــانځئ د مينــې، پــه خوبونــو اروا گــانو.

د دوښــمن مړونــد بــه ونيســو پــه څــه شــي
نــه لېنــده لــرو نــه تــوره او نــه غشــي.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد یې له یارانه سره مل راځي
زړه ته په شپېو شپېو غزل راځي

زړه یې رانه وړی خو زړه نه راوړي
غېږې ته راځي خو په ډېر چل راځي

ستا په دربار کې چې مقام نه لري
لکه بېخي چې سړی نام نه لري

ځکه نمایان یم په هنداره کې
زه د ستا په شان یم په هنداره کې

ته مې چاپېریال یې زه په تا کې یم
څه ښکلی ودان یم په هنداره کې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپین شعرونه

## وختونه

راشه‌راشه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وختونه سره جوړ کړو
زه به لمر ته به سپوږمۍ شې
زه به تا ته
ته به ما ته لېونۍ شې

☆ ☆ ☆

ښه شوه ښه شوه
چې ته راغلې
ستا په څنګ کې
زه تود بږم
ستا په څنګ کې
زه بدلېږم زه بدلېږم
ستا په څنګ کې
لکه لمر د اسې ځلېږم

☆ ☆ ☆

اهو دا دی
اهو دا دی
زه خو لمر شوم چې ته راغلې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه ســپوږمۍ شــوې چــې تــه
راغلې
زه راوختم په غرونو
خلک وايي
چې سبا شو
زه پناه شوم په غرونو
خلک وايي
چې بېگا شو
زه چې لاړم نو ته راغلې
خلک وايي
چې د غرونو
پر سرونو سپوږمۍ راغله
زه له تا يم
ته له ما يې
زه رڼا يم
ته رڼا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه سبا يم
ته بېگا يې
ته سبا يې
زه بېگا يم
زه له تا يم
ته له مايې
ته له ما يې
زه له تا يم.

۱۳۹۱/۱۰/۰۱
حيدرآباد

## وخت له کومه موږ ته راشي؟

چې لمر نه وي
شپوږمۍ نه وي
ستوري نه وي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا نه وي
سبا نه وي
بېگا نه وي
وخت له کومه موږ ته راشي؟

☆ ☆ ☆

سبا نشته
بېگا نشته
غرمه نشته
ماښام نشته
وخت بهر دی له زمانه
وخت بهر دی له مکانه
وخت له کومه موږ ته راشي؟

وخت په لاس کې
د ګړۍ د ستنو نشته

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت په لاس کې
د سپوږمۍ او ستورو نشته
وخت په لاس کې
د زرینو وړانګو نشته
وخت د مینې
په شېبه کې راپیدا شي
وخت د مینې
په بوسه کې راپیدا شي.

۱۳۹۱/۱۰/۰۴
حیدرآباد

# لمر

لمر ولاړ په درمنده کې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وا مته د غوبل ده
چارچاپېره ترې تاوېږي
غټ غوايان د سپينو ستورو
د دې ستورو د غوايانو
له قدم قدم قدمه
موسمونه پيدا کېږي
سپرلی راشي غنم شنه شي
اوړی راشي غنم وشي
منی راشي جوار شنه شي
ژمی راشي جوار وشي

☆ ☆ ☆

لمر ولاړ په درمنده کې
ته وا مته د غوبل ده
چارچاپېره ترې تاوېږي
غټ غوايان د سپينو ستورو

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ښتې ښتې خپرېږي
د دې ستورو د غوايانو
له قدم قدمه زېږي
وخت په برخو برخو ویشي
څه غنم شي څه ګینډي شي
څه يې بوس او څه خچکي شي.

۱۳۹۱/۱۰/۰۴
حيدرآباد

# روح

روح په تا کې
روح په ما کې
روح په تېږه
روح په ونه
روح په هر څه کې نتلی
روح د روح نه زېږېدلی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

☆ ☆ ☆

زه دې روح یم ته مې روح یې
زه په تا کې ته په ما کې
گرځېدی را گرځېدی شو
زه په تا کې ته په ما کې
بدلېدی را بدلېدی شو
زه که تا ته در یاد ېږم
ته به ما ته را یاد ېږې
نه به زه درنه هېرېږم
نه به ته رانه هېرېږې

☆ ☆ ☆

روح چې راغی
روح یې راوړ
د مریمې تر لمنې
روح چې وشو
روح الله شو
عیسی ستر شو په خندا شو
ښا پېرک ته یې ورح ورکړو

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هد برې یې راژوندی کړې
خاطرې یې راژوندی کړې

☆ ☆ ☆

روح چې راغی
ترحلاجه
په منصور کې راځرگند شو
روح په چیغو نارې وکړې
نوُر په نُور کې راځرگند شو.

## هرڅه ستاالپاره دي خو !

که ستا لېچې، مړوندونه
نه وي !
په بنگړیو په وښیو
څوک څه کوي؟
که ستا سپین ورغوي
که ستا د سپینو سپینو گوتو
سپین سپین شیرچایي نوکونه
که ستا سپینې
کوړمې لرونکې نرۍ پښې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي !
نکريزې دې ورکې شي !
که ستا په ګوتو جوړې ګوتې
که ستا سترګې ستا لېمه
نه وي !
په ګوتي په چيله بيا
په رنجو او په رنجوړمه
څوک څه کوي؟

که ستا د زلفو
د ګېډ يو کلپچونه
که ستا د زلفو
د ګېډ يو تيارې
که ستا د زلفو
د ګېډ يو خوربو
نه وي !
د شړشمو د زيتونو په غوړيو
د سپوږمۍ په رڼاګانو
په يخو يخو هواګانو
څوک څه کوي؟
که ستا لونګينې خولې
که ستا پاسته ماسته ګامونه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي !
د زړګي په سپین د سمال بیا !
د طبیعت په شنو فرشونو
څوک څه کوي؟
خو
که ته نه وې !
په ما څوک څه کوي؟
هو ! په ما څوک څه کوي؟
دا هرڅه او هرڅه

هغه چې یاد مې نه کړل
هغه هم
دا ټول ستا لپاره !
هو دا هرڅه ستالپاره دي !
خو
ته پوهېږې؟
چې ته د چا لپاره؟
هو !
بالکل !
هېڅ شک نشته !
ته زما لپاره !
خو
زه او ته دواړه !
غاړه ترغاړه !

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند د سیند پر غاړه !
د چا لپاره؟

۱۳۹۲/۰۵/۲۰
د وړوکي اختر ثلورمه
حیدرآباد

## نر او ښځه

زه او ته یو و
په یو باغ کې
پر ویاله پورې را پورې
مخامخ ولاړې ونې
ډک لاسونه مو د مینې
له میوو نه زنګېدلي
پر یو بل دي اچولي
زما لاس کې سره انار دي
ستا په لاس کې سرې منې دي
زه انار یم ته منه یې !
زه که تریو یم ته خوږه یې !

۱۳۹۲/۰۵/۲۰

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وړوکي اختر څلورمه
حيدرآباد

## سور ګلاب او سره مچۍ

چپ طرف کې د ټټر مې
اووه پاڼی سور ګلاب راټوکېدلی
هره پاڼه
د اوو پاڼو د پاسه
د شبنم سپينې ټوپۍ يې
په ټټر باندې ټومبلې
له بېديا نه د سرو شاتو
سره مچۍ ګلاب ته راغله
سپينه خوله يې
په سرو پاڼو باندې کېښوه
د سرو پاڼو سره شيره يې
د شبنم سپينې ټوپۍ يې
ټولې تېرې کړې
په ينګه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې راوینښ شوم
چې مې سترګې کړلې پورته
ته مې
چپ طرف کې
مسکه وې ولاړه !

۱۳۹۲/۰۵/۲۲
کابل/کارته نو

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظمونه

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما " پیل او پای "

## (۱)

راغلـی اتېـوان[۱] یمـه، لـه هـر څـه بـې خبـر یمـه
پـه کـوم لـوري روان یمـه، بـې لـوري بـې ګـودر یمـه

مشـکل یـم کـه اسـان یمـه، د نـوي لار پـر سـر یمـه
کـافر کـه مسـلمان یمـه، هنـداره بـې جـوهر یمـه

پـه لاس کـې د بـاغوان یمـه، یـو تخـم د شـجر یمـه
خبر چې اوس پـه ځـان یمـه، پـه ځنـګ کـې د دلبـر یمـه

پـه ځنـګ کـې د دلبـر یمـه، وحدت زمـا پـه ځـان کـې دی
وحدت زمـا پـه ځان کـې دی، کثـرت زمـا پـه ځـان کـې دی

نفـرت زمـا پـه ځـان کـې دی، الفـت زمـا پـه ځـان کـې دی
دوزخ زمـا پـه ځـان کـې دی، جنـت زمـا پـه ځـان کـې دی.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) اتیوان: زموږ د لهجې ویوکی دی چې په دغو ماناو کارېږي؛ نابلد ، نوی، ناخبره او ناپوه.

(۲)

پــردې د نــا پــوهۍ لــرم، تیــارې د لــویې لارې دي
حیلــې او چلاکــۍ لــرم، لړمــې دي ښــامارې دي

تابیــا چــې قــارونۍ لــرم، لمبــې راتــه بیــدارې دي
چــاړې د ژبړبــۍ لــرم، د ورور پــه نــوم تیــارې دي

کــرېږ د زړه پــوړۍ لــرم، کــرېږ مــې ســمې چــارې دي
لشــې د ځانځــانۍ لــرم، کېســې زمــا بېمــارې دي

کېسې مې چې بېمارې دي، علت زما پـه ځان کې دی
علت زما په ځان کې دی، قیمت زما پـه ځان کې دی

نفرت زما په ځان کې دی، الفت زما پـه ځان کې دی
دوزخ زما په ځان کې دی، جنت زما پـه ځان کې دی.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

نیشان مې شان په شان ګوره، مجنون یمه لیلا یمه
منصور د خپل دوران ګوره، صوفي یمه مُلا یمه

د راز عجیبه شان ګوره، چې حضر(ع) یم موسی(ع) یمه
میخوار و ساقیجان ګوره، مینا یمه، مینا یمه

ماښام د سحر ځان ګوره، چې نن پرون سبا یمه
دانا ساده نادان ګوره، هم دا یمه هم دا یمه

هم دا یمه هم دا یمه، نوعیت زما په ځان کې دی
نوعیت زما په ځان کې دی، فطرت زما په ځان کې دی

نفرت زما په ځان کې دی، الفت زما په ځان کې دی
دوزخ زما په ځان کې دی، جنت زما په ځان کې دی.

۱۳۸۴/۰۸/۱۱
د روژې مبارکې د ېرشمه،
حیدرآباد/ خوست.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی پاچا

پاچا راغی د "سرې آسپې" په گډۍ کې
ځان یې پټ دی د پردیو په شړۍ کې
خپل یې پلې خو سپاره یې ټول پردي دي
په لښکر کې یې څه ښځې څه سړي دي
اعلانونه د انصاف د عدل کېږي
وایي هر څه به په ناف د عدل کېږي
پاچا راغی پر گدۍ د پاچا کښېناست
گډۍ څه چې پر پګړۍ د پاچا کښېناست
چې دربار یې دومره لږ څه برابر کړو
رادعوت یې ټول راعیت په یو خبر کړو
پاچا ونې لومړۍ وغوښتې دربار ته
مشرتوب چې خدای(ج) ورکړی و چنار ته
په دربار کې چنار پورته شو وینا کړي
چې خبر د قام په حال باندې پاچا کړي
لا تر اوسه چنار سپین نه و وهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا ووې چې زه به یم پوهېدلی
مطلب دا دی چې ته غوږ شه زما وروره
او خبره ډېره نه اوږدوو نوره
موږ راوړی نن په پلان کې زلمیتوب دی
وخت راغلی په تا ډېر د بوډاتوب دی
زموږ کار دی چې نیالگي په کار لگیا کړو
په کار پوی د کار سړي په کار لگیا کړو
د کیکر په مشرۍ کې به اوسېږې
چې په مینه او په عدل و پوهېږې

په دربار کې بیا د ژویو نوبت راغی
په دې ژویو کې پاچا د قوت راغی
مشري که له فطرته د زمري وه
پاچا پټه له گیدړ سره یاري وه
د پاچا امر په دې ډول څرگند شو
گیدړ سپین لباس په غاړه را څرگند شو
مشري شوه د خپل قام د ده پر غاړه
د زمري په گېډه سپینه توره لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دربار کې د مرغانو نوبت راغی
د شهباز وجود په رپ د الوت راغی
د گوزار په اراده شو دا يې ووې
لړ په ځان شو اداره شو بيا يې ووې
وې يې دا څنگه پاچا و پاچاهي ده
عجيبه دموکراسي دپلوماسي ده
د ټپوس په مشرۍ کې نه اوسېږم
زه شهباز يمه آزاد گرځېږم
د شهباز پر دې خبره شور ماشور شو
د پاچا په مېلمنو باندې بل اور شو
پاچا غلې خوله نږدې کړه خپل وزير ته
وزير پورته شو لو لومې او زنځير ته
د پاچا په مېلمنو کې يو مېلمه و
ته به وايې د پاچا د کور کوربه و
له وزير نه يې هم لومه زنځير واخيست
له پاچا نه يې هم چل او تدبير واخيست
په خوږه خوږه شهباز ته ورنږدې شو
په پلمه پلمه شهباز ته ورنږدې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټپوس باندې يې غږ وکړو چې ژر شه
ته مې دوست ته مې ملګرى د هنر شه
د شهباز وزر يې ژر په لومه بند کړل
د ټپوس ياران يې غږي د خپل ګوند کړل

☆ ☆ ☆

پاچا راغى د "سرې آسپې" په ګډى کې
ځان يې پټ دى د پرديو په شړى کې
خپل يې پلي خو سپاره يې ټول پردي دي
په لښکر کې يې څه ښځې څه سړي دي
نه پوهېږم چې دا څه ډول پاچا دى؟
کار د چا وطن د چا او واک د چا دى!

## چې دنيا يې لېونى ده

(۱)

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـــې دنیـــا یـــې لېـــونۍ ده
تقضـــــــا د زنـــــــدګۍ ده
پـــه بـــدل کـــې د خـــوارۍ ده
یـــا پلـــو دی یـــا ډوډۍ ده
نـــه چـــې حـــوره ښـــا پېرۍ ده.

(۲)

چـا تـه لومـه شي لېندۍ شي
چـا تـه ورکـه درخـانۍ شـي
چـا تـه ګرانـه نـاوکۍ شـي
چـا تـه غـرد شـیرینۍ شـي
د چـا بنـــده پـــه غـــرۍ ده.

(۳)

څوک په بڼه د خپل نفس کړي
څـوک پـه بڼـه د هـوس کـړي
څوک بهر له "مخمس"[1] کړي
څـوک دننـه پـه قفـس کـړي
پـه چـا ګرانـه ترخـدایۍ ده.

۱۳۸۴/۰۹/۰۷

(۱) د سپېڅلي اسلام پنځو بنسټونو ته اشاره ده.

# ګني نشته سپین او تور

(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چـا ژونـد لکـه ګبـین
د چـا ژونـد لکـه ګنـډېر
د چـا ژونـد لکـه رنـا
د چا ژونـد د شـپې پـه څېـر
ژونـد د هـر سـړي جـدا
رنګ په رنګ او څېر پـه څېر.

(۲)

څـوک همـت کـوي څـوک نـه
څوک مېړې شي څوک خرړی
څـوک د کـور څـوک د بېـديا
څـوک شـي ښـځه څـوک سـړی
څـوک زړګـی لـري دريـاب
څـوک زړګـی لـري ګـړی.

(۳)

څـوک لګيـا پـه محبـت
څـوک لګيـا پـه اخ وډب

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک بنده وي د پیسو
څوک بنده وي د خپل رب
څوک بربنډ لکه ښاروی
څوک انسان وي مودب

(۴)

څوک ناري کړي له مستۍ
څوک ژړا کوي اخ اخ
څوک ځلا کړي لکه لمر
څوک شرمېږي په خپل مخ
څوک روان دی تر جنت
څوک روان دی تر دوزخ

(۵)

څوک چې نهویني خپل یار
بل به څوک وي لا غریب
که مانا ده د جنت
خو وصال دی د حبیب

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــــه مانــــــا ده د دوزخ
خـــو قربـــت دی د رقیـــب

(۲)
دا خطـــا د مـــورو پـــلار
چـــې انســـان شـــي دوزخـــي
دا رښـــا د مـــــوروپلار
چـــې انســـان شـــي جنتـــي
گنـــي نشـــته ســـپین او تـــور
ټـــول پیـــدا یـــوو ملکـــوتي.

۱۳۸۴/۰۹/۲۱
حیدرآباد

## که مې زړه له چا نه ښه شي

(۱)
مـا وې خنگـه بـه دې خپـل کـړم
چـې پـه مینـه دې زه ښـکل کـړم

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دې زړه ته رانیږدې کړم
بل دې سترګو ته کجل کړم

ستا له مخه وریږدلې
د نرۍ ښکلا غزل کړم

ته په مینه راته موسې
زه دې سترګو ته کتل کړم

چې نرۍ رڼا رڼا شي
چې د مخ څراغ دې بل کړم

وې یې ډېر ښه دا به وشي !
ما وې کله به دا وشي؟

(۲)

ما وې زه درپسې راغلم
په مزله درپسې راغلم

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه مــې وينــې لکــه وينــې
چــې لــه زړه درپســې راغلــم

کـړه پـه سـترګو مـې تـه پـورې
چــې رانجــه درپســې راغلــم

پـه ببـديا کـې رانـه ورک شـوې
تــر کالــه درپســې راغلــم

دا پوښـــتنه مګـــر وکـــړه
چــې پــه څــه درپســې راغلــم

وې يــې ډېــر ښــه دا بــه وشــي !
مــا وې کلــه بــه دا وشــي؟

(۳)

مـا وې سـر مـې لـه تـا جـار شـه
هـر نظـر مـې لـه تـا جـار شـه

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر تر پایه زه د ستا یم
زړه ځیګر مې له تا جار شه

مابنامی مې له تا جار کړې
مازدیګر مې له تا جار شه

ډکه شپه له ستورو ډکه
سپین سحر مې له تا جار شه

ما وې تا چې پکې ستایم
دا هنر مې له تا جار شه

وې یې ډېر به دا به وشي !
ما وې کله به دا وشي؟

(۴)

ما وې ځان مې درته راوړ
ډک جهان مې درته راوړ

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د يو نظر په بيه
سر سامان مې درته راوړ

تا له گرانه راته ويلي
په تا گران مې درته راوړ

که مې گل کړې ارمانونه
داغستان مې درته راوړ

ته مضمون د مينې راکړه
چې عنوان مې درته راوړ

وې يې د پر ښه دا به وشي !
ما وې کله به دا وشي؟

وې يې هله به دا وشي !
که مې زړه له چا نه ښه شي؟

۱۳۸۴/۰۹/۲۳
حيدرآباد

# ښامار د جينۍ پلار

لا ماشومه ده وړه ده
لا سپېڅلې پرېښته ده

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس روانـــه ده دوزخ تـــه
څـه چـاره يـې نيشـته مـخ تـه
اوس کېنـــي د اور د پاســـه
د ظـــالم بابـــا لـــه لاســه
پـلار يـې زوی د کاکـا مـړ کـړو
بيـا يـې ځـان جرګـې تـه پـړ کـړو
لـــور وړه يــې د تــره زوی تــه
ګـــوره ورکــړه هغــې لــوی تـه
بــل يــې څـــو لاکــه کلــداري
پـــه دريـــم ورځ تيـــاري
د ســرو وينــو پــه بــدل کــې
تــره تــه ورکــړې پــه اول کــې
اوس د ورا نوبــت رالنــډ شــو
پــه جينــۍ قيامــت رالنــډ شــو

د نکريـــزو شـــپه بېګـــا تـــه
ســره ډولــۍ بــه وي ســبا تــه
ورځ چـې تېـره شـوه مابنـام شـو
د وړې جينـــۍ ناکـــام شـــو
چـــې همزولـــې يـــې وړې وې

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــه ماښــامه بعــد ویــدې وې
پــــرې راتــــولې مشــــرانې
مړې مړې اوښکې ترې روانې
چـــا یـــې زلفـــې ســـمولې
چـــا نکریـــزې لګـــولې
خوب پرې راغی په سنګار کې
شـوه ویـده پـه دغـه چـار کې
چې سبا شـو مـور لــه خوابـه
رابیـــداره کـــړه بـــې تابـــه
خـو چې مخ تـه یې ورپـام شـو
داغ یې سور په مخ تر پام شو
مـور یـې ښـه شـوه ورتـه ځیـره
عجیبـــه شـــوه ورتـــه ځیـــره

چـــې د شـــپې وه ژړبـــدلې
نیمـــه ویښـــه خوبـــولې
پـــه نکریـــزو ســـوک لړلـــی
دې پـــه ســـترګو کـــې وهلـــی
د نکریـــزو رنـــګ پـــرې ښـــخ و

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــــه وا وينـــــې د دې مــــخ و
ما سپېښـين چې ډولـۍ راغلـه
تبـه سـره پـه جينــۍ راغلــه
ډولـــۍ نـــه وه بـــس ښـــامار و
دا ښـــامار د جينـــۍ پـــلار و
اوس نـو ويـر كـوي پـه زړه كـې
ځي د لـوی ښامار پـه خولـه كې
د دوزخ د لمبـــو كـــور تـــه
ژونـدۍ د رومـي جينـۍ گـور تـه.

۱۳۸۴/۱۰/۰۳

## خو چې نه وركېږي څه دي؟

ونـــې اور وا خلـــي لمبـــې شـــي
څـه لـو گی شـي څـه ا بـرې شـي
ا بـــرې بـــاد يو ســـي ذرې شـــي
او بـه گرمـې شـي تـودې شـي
د گـــــازونو لارې دوې شـــــي

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیــږه ماتــه پــه ختــک شــي
که څوک لشکي ورتــه څک شي
نــو پــه خپلــه بــه هــک پــک شــي
پــای بــه هــر څــه هــر څــه ورک شــي
نــه بــه پــاتې د چــا شــک شــي

☆ ☆ ☆

خــو چــې نــه ورکېــږي څــه دي؟
د ګلرنګـــو ګـــل کاتـــه دي !
زه او تـــه دي بـــد او ښـــه دي !
دا روحونـــه دي کـــه څـــه دي !
چــې پــه نــام بانــدې د زړه دي !

حیدرآباد ـ ۱۳۸۴/۱۰/۰۷

## پی، خوله ماشوم
## او
## توره چورلکه

یــوه شــپه چــې دوې بجــې وې
د تــول کلــي ډېــوې مــړې وې
د ســخت اوړي پــه موســم کــې
زمــوږ کلــي او پــه چــم کــې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو د پی خولګۍ ماشوم و
د تمام جهان مفهوم و
له ادې سره په ښنګ کې
ویده پروت و په فلنګ کې
په انګړ کې یې فلنګ و
نه خطر و او نه جنګ و
یو ناڅاپه غرا لاړه
ته وا لاړه دنیا لاړه
د ماشوم چیغار شو پورته
په ژړا ژړا شو مورته

مور یې ونیوله کلکه
پاس پر کور یې وه چورلکه
وه چورلکه دومره ټیټه
چې ویښتي شوله په لیټه [1]
مور یې ژر شوله بیداره
د ماشوم له ډېر چیغاره
په چیغار چیغار سبا شو
په چیغار ببرته بېګا شو

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار یې لاړلو ملا ته
دم یې راوړلو بېگا ته
مور یې دم کړو ور په غاړه
په ورو ورو یې ژړا لاړه
په سلگو سلگو سهار شو
د ماشوم زړگی قرار شو
یوه ورځ شوله دوې شپې شوې
پر ماشوم ډېرې ترخې شوې

(۱) لیټه: زموږ په لهجه کې لوټې ته وایي.

هر یو سات مو دی په غم کې
داسې حال مو دی په چم کې
چې تو یېږي وینه ډېره
له هر چا ده مینه هېره
رب دې خیر کړي نور به څه شي
د ساده به زړه اوبه شي.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۸۴/۱۰/۱۱
حیدرآباد

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک د دې ټکو شاعر شو؟

تا ته وګورم يو درد مې، په زړګي کې را پيدا شي
د لنډۍ پشانې فرد مې، په زړګي کې را پيدا شي

په وجود کې زما خپور شي، لکه وينه لکه مينه
زلزله را باندې راشي، سر تر پای مې خوځوينه

بې خبره قلم واخلم، د کاغذ پر سپينه ځمکه
کرونده د ټکو وکړم، ستوري راشي له فلکه

د دې ځمکې او سيدونکي، ښکلي ښکلي خلک راشي
د دې پېښې ننداري ته، ډېر ښاغلي خلک راشي

ته يې پټ په زړه کې کښېنې، دوی زما په ننداره شي
چې زما په ننداره شي، دوی په خپله ننداره شي

اوس کوم درنه جانانه، دا ساده غوندې پوښتنه!
زه په دې کې يم حيرانه، چې له چا وکړم منننه؟

چې د ژوند په دې شېبه کې، څوک د دې ټکو شاعر شو؟
چې د ژوند په دې شېبه کې، څوک د دې ټکو ماهر شو؟

"سعود سيد شاه" ته

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وجود او زما ځان سعوده
دومره په بره رانه مه ځه کنه
ستا په سندرو کې مې ته ولیدې
کوم خبره رانه مه ځه کنه

☆ ☆ ☆

تا د "حمزه" وینا ته غوږ اینښی دی
ځکه د لمر په مانا ښه پوهېږې
ته د خوشال غوندې له قامه خبر
د لروبر په مانا ښه پوهېږې

☆ ☆ ☆

ته که په ښار کې بې کچکوله اوسې
خو د "رحمان" په ملنګۍ کې غرقاب
ته لېونتوب د لېونیو لرې
ته د "غني" غوندې خانۍ کې غرقاب

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـه کـه د رنـګ و نـور خبـرې کـوې
تـــه د رنګونـــو مانـــا نـــه پېژنـــې
تـه امکانـاتو پســې نـه ګرځـې بـس
د امکانـــاتو دنیـــا نـــه پېږنـــې

☆ ☆ ☆

تـه د جانـان خـوا تـه نېـږدې ور درومـې
تـــه آزادي لـــه خپـل وجـوده غـــواړې
رقیـــب غمـــاز دې پېژنـــدلی دی خـــو
تـل بـه طاقـت لـه خپـل معبـوده غـواړې

۱۳۸۵/۰۱/۱۲
حیدرآباد

# انساني قرباني

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جلیس په نوم سړی و په یو وخت کې
ډېر سخي او مېړنی و په یو وخت کې
د اوو زمنو پلار و مهربانه
ستر تاجر او ستر مالدار و مهربانه
څوک چې خدای(ج) ته ورنږدې وي او نېکان وي
را روانه پرې لړۍ د امتحان وي

☆ ☆ ☆

د څلورو پرښتو نه په اسمان کې
جبرائیل(ع) و مکائیل(ع) شوې په بیان کې
مکائیل(ع) پوښتنه وکړله نادره
او ځواب یې ترې نه وغوښت په ظاهره
د انسان تپوس یې وکړو په دې شان ته
جبرائیل(ع) یې غوږ نیولی و بیان ته

☆ ☆ ☆

مکائیل(ع) وې چې په ځمکه کې انسان دی
نه پوهېږم چې بخیل که مهربان دی؟

زه خو وایم چې بخیل بخیل بخیل دی!
نه مې یار نه مې ملګری نه خلیل دی!

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ



☆ ☆ ☆

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبرائیل(ع) بیا ورته وې چې راشه ګوره
چې دې څمکې ته ورکوز کړم زما وروره

بیا نو څمکې ته راکوزې پرېښتې شوې
او زموږ په څېر یې هوبهو څېرې شوې
جبرائیل(ع) د مسافر په نوم روان شو
د بیمار او د ضعیف انسان په شان شو
مکائیل(ع) ورته طبیب شو په یو ښار کې
د طبیب پشانې ناست په انتظار کې
بل طبیب په دغه ښار کې چېرته نه و
د بیمار په انتظار کې چېرته نه و

☆ ☆ ☆

جبرائیل(ع) چې د یو کلي په جومات کې
هلته ناست وو ډېر ښاغلي په جومات کې
د وجود د بیمارۍ شکایت وکړ
بیا یې جوخت د غریبۍ شکایت وکړ

ځان یې دوی ته مسافر ورمعرفي کړو
هر یو خوی یې د بیمار غوندې سرې کړو
په جومات کې خلک واړه پرې خپه شول

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربانــــه عجيبــــه شــول، عجيبــــه شـــول
ښـــې پرېمـــانې اشـــرفۍ يـــې ورتـــه راوړې
پـــه بخښـــنه پـــه ډالـــۍ يـــې ورتـــه راوړې
مســـافر لـــه اشـــرفيو نـــه منكـــر شـــو
لـــه بخشـــش او لـــه ډاليـــو نـــه منكـــر شـــو
ده غوښـــتنه د طبيـــب كـــړه چـــې مـــا بـــوځئ
او كېســـه يـــې پـــه ترتيـــب كـــړه چـــې مـــا بـــوځئ
ده پـــه ښـــار كـــې ورتـــه نـــوى طبيـــب وښـــود
د مـــرض لپـــاره روى[1] طبيـــب وښـــود
كليـــوال بـــې حـــده خـــوښ پـــه دې طبيـــب شـــول
ډېـــر منـــونكي د رحمـــان او د حبيـــب شـــول

مكائيـــل(ع) پـــه انتظـــار كـــې ورتـــه ناســـت و
د طبيـــب پـــه نـــوم پـــه ښـــار كـــې ورتـــه ناســـت و

☆ ☆ ☆

(۱) روى: حريص، بد ، سخت.

كليوالـــو بېمـــار ور وســـتو طبيـــب تـــه
ټـــول حيـــران وو د بېمـــار غريـــب نصـــيب تـــه
چـــې طبيـــب ورتـــه عـــلاج پـــه مينـــه وښـــود
خـــو عـــلاج يـــې د انســـان پـــه وينـــه وښـــود

www.ketabton.com - د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې د داسې هلک خون ورته پکار دی
چې د شپږو ورونو غم پر ده امبار دی
وې يې لاړ شئ دا ماشوم به ورته مړ کړئ
په سرو وينو يې بيمار واړه ککړ کړئ
په چاړه به يې غړۍ کړئ ورته غوڅه
خو چاړه به ښه تېره وي نه چې پڅه
او ماشوم به د بابا په لاس مړ کېږي
هسې نه چې د بل چا په لاس مړ کېږي
له دې پرته که څه کېږي ښه خبر شئ
ستاسې کار به نه جوړېږي ښه خبر شئ

کلېوال په دې ماشوم پسې روان شول
گرځي گرځي په پوښتنه په گريان شول
له هر چا نه يې تپوس په لار کولو
يو سړي ورته په ښار کې وښودلو

وې يې ورشئ د اوو زمنو پلار دی
د جليس په نوم يادېږي لوی مالدار دی
خو دا شپږ زمن يې پرلپسې مړه دي
نه پوهېږم چې مړه شوي تري په څه دي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قاســم پــه نــوم بچــی دی یــو ورپــاتې
پــه گلونــو کــې ببــری دی یــو ورپــاتې

کلېــوال پــه منــډه ورغلــل مالــدار تــه
د زوی مــړي غمځپلــي غریــب پــلار تــه
ســر تــر پایــه یــې کیســه ورتــه بیــان کــړه
او نســخه یــې د طبیــب ورتــه عیــان کــړه
پــه ورو، ورو اوښــکې روانــې لــه جلــیس شــوې
پــه ژړا کــې کیســې ورانــې لــه جلــیس شــوې
بیــا یــې ورو ســته ورتــه ووې چــې ســهي ده
خــو رضــا مــې د قاســم پکــې شــرطي ده
بلــه دا چــې د قاســم یــوه مــورکۍ ده
د زمنــو لــه غمونــو لېــونۍ ده

د دوی دواړو رضــاتوب پکــې ضــرور دی
مــا پــه ســترگو دغــه ســوال درتــه منظــور دی

☆ ☆ ☆

کلېوالــو چــې قاســم کلــه خبــر کــړو
عجیبــه وه قاســم واک ورلــره ورکــړو

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې مور په دې کېسه کړله خبره
چې توته به دې بېلېږي له ځېګره
مور غریبه یې په دې باندې رضا شوه
دغه پېښه ورپېښه له قضا شوه

☆ ☆ ☆

د جلیس دغه اووم ورو کی زوی و
اوس یې خدای(ج) ورځنې اخلې په دې پوی و
مکائیل(ع) مهرباني د انسان ګوري
په انسان کې قرباني د انسان ګوري

☆ ☆ ☆

جبرائیل(ع) چې اوس په شکل د بیمار دی
د هلک وینې ته ناست په انتظار دی

☆ ☆ ☆

کلیوالو چاره راوړله مالدار ته
چې غوړې د زوی ورغوښه کړې سهار ته
بیا جلیس غوړې ورغوښه د خپل زوی کړه
په کاسه کې یې سره وینه ورته توی کړه
مسافر ته یې کاسه کړله ورورانده
سره د وینو یې تحفه کړله ورورانده

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافر دغه کاسه کړله قبوله
سره د وینو یې تحفه کړله قبوله
په مننه خوشالۍ تري نه رخصت شو
د جلیس مقام د خدای(ج) په نزد اوچت شو

امتحان په امتحان کې دا سې راغی
نوی شان په نوي شان کې دا سې راغی

☆ ☆ ☆

جبرائیل(ع) د مکائیل(ع) سره یو ځای شو
د طبیب په نوم خلیل سره یو ځای شو
د مرغانو په ځبر وختل اسمان ته
په زاریو دواړه کښېناستل سبحان ته

د جلیس په باب یې ښکلې دعا وکړه
دې ښاغلیو ښه ښاغلې دعا وکړه
خدای(ج) قبوله هم د دوی دغه دعا کړه
دروازه یې د نعمت وربانـدې وا کړه

☆ ☆ ☆

د جلیس په کور کې ویر لا د ماشوم و
څوک به څه وکړي تقدیر دا د ماشوم و

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا یـــې مـــړی هـــد برې تـــه نـــه و وړی
خـــو ترتیـــب یـــې د هـــر څـــه و ورتـــه کـــړی

امتحـــان پـــه امتحـــان کـــې داســـې راغـــی
نـــوی شـــان پـــه نـــوي شـــان کـــې داســـې راغـــی

☆ ☆ ☆

جبرائیـــل(ع) ومکائیـــل(ع) یـــې در تـــه راغلـــل
د انســـان پـــه شـــانې ببرتـــه ور تـــه راغلـــل
غـــړ یـــې وکـــړو چـــې مـــوږ وږې مســـافر یـــوو
د ډوډۍ پـــه انتظـــار کـــې بـــرادر یـــوو

چـــې جلـــیس کلـــه راووتـــه بهـــر تـــه
مســـــافر وږي ولاړ وو د ده در تـــــه
بیـــا یـــې دواړه لاســـنیولي بوتلـــل کـــور تـــه
غـــړ یـــې وکـــړو د مـــړ شـــوي قاســـم مـــور تـــه
وې ډوډۍ ورتـــه تیـــاره کـــه پـــه بیـــړه
هلـــه ژر شـــه هـــره چـــاره کـــه پـــه بیـــړه

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسترخوان یې برابر کړو ښه په منډه
مسافرو ته جلیس په ویاله تېنده
مسافر چې دسترخوان ته په کتو شول
یو و بل ته په کتو په موسېدو شول
مکائیل(ع) مهربانې د انسان ګوري
په انسان کې قربانې د انسان ګوري

☆ ☆ ☆

بیا یې غږ پر جلیس وکړلو چې راشه
خدای(ج) د ستا شو ته د خدای(ج) شوې په خندا شه
هله راشه چې ډوډۍ ته سره کښېنو
ځنګ په ځنګ چې خوشالۍ ته سره کښېنو

خو جلیس وې چې مې زړه نه ورته کېږي
او مړۍ مې په غړۍ کله تېرېږي
د قاسم په نوم بچی مې دی مړ شوی
په ګلونو کې ببری مې دی مړ شوی
اخېري بچی مې دی و رانه مړ شو
زما روح زما زړګی و رانه مړ شو
شېبه وروسته جنازې ته روانېږو
ځوو په ګډه هدېرې ته روانېږو

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مســـــافرو بيـــــان واوربـــــد پـــــه غوربونـــــو
لا يـــې خـــولې وهلـــې نـــه وې پـــه شـــخوندونو
د جلـــــيس پـــــه كبســـــه پـــــوى وو لـــــه اولـــــه
خـــو كبســـه يـــې تـــش لـــه ده نـــه اوربدلـــه
بيـــا يـــې غـــږ پـــر قاســـم وكړلـــو چـــې را شـــه
راژونـــــدى راتـــــه پـــــه حكـــــم د الله شـــــه

☆ ☆ ☆

د قاســـم مـــړى ژونـــدى شـــو پـــه فلنـــگ كـــې
پـــه ډوډۍ ورســـره كښېناســـتو پـــه څنـــگ كـــې

☆ ☆ ☆

د جلـــيس لـــه ســـترگو اوښـــكې شـــوې روانـــې
د قاســـم پـــه هركلـــي كـــې شـــوې پربمـــانې

☆ ☆ ☆

امتحـــان پـــه امتحـــان كـــې داســـې راغـــى
نـــوى شـــان پـــه نـــوي شـــان كـــې داســـې راغـــى

☆ ☆ ☆

د جلـــيس هغـــه مـــړه شـــوي زمـــن څـــه وو !
د قاســـم ســـره پـــوره اووه وو !

www.ketabton.com - د پښتو كتابونو پر ليكه نړى

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس په حکم د الله(ج) سره ژوندي شول
بس په حکم د لله(ج) سره سړي شول
پرښتو په دسترخوان باندې راتول کړل
نوي ژوند په نوي شان باندې راتول کړل

مکائیل(ع) ته ورمالومه قرباني شوه
ورمالومه د انسان مهرباني شوه

☆ ☆ ☆

له جلیسه مسافرو روخصت واخیست
پرښتو په ښو خبرو روخصت واخیست

☆ ☆ ☆

پر ښو خلکو وي د خدای(ج) امتحانونه
ډېرو، ډېرو قربان کړي دي ځانونه
قرباني د ابراهیم(ع) راته یاد بړي
اسماعیل(ع) مې هم په سترګو کې غړېږي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه دې شــــانته مــــې اخيـــر د دې بيـــان دی
انســــانيت د ســـــر پـــــه بيـــه هــــم ارزان دی.

۱۳۸۵/۰۵/۱۸
حيدرآباد

## په نيمه شپه کې
## د جانان سره
## يو ځای شمه زه

زړګـــی نـــاولی کـــړي د غيـــر فکـــر کولـــو بانـــدې
هـــوا مـــرداره کـــړي د ســـاه پـــه اخيســـتلو بانـــدې
ســـتوري پـــه کـــاڼو بانـــدې ولـــي هـــم اېـــرې ورشـــيندي
فلـــک تـــه ګـــوري لـــه نظـــره ســـرې لمبـــې ورشـــيندي
مينـــه تربتـــه کـــړي د کرکـــې د خپســـې پـــه نـــوم
وېـــره خپـــره کـــړي د شيشـــکې د خپســـې پـــه نـــوم
ونـــې ارې کـــړي د لرګيـــو نـــه يـــې اور جـــوړوي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته چې امن وي په هغه ځای کې شور جوړوي
سيېځلې خاوره يې د پښو لاندې هم ورکه ښکاري
ځمکــه تــر ډېــره د مــردارو اوبــه ډکــه ښــکاري
پــه دا ســې وخـت کـې د جانـان پــه لـور مـزل کومـه
پـه دا سې وخت کې د خپل ځان پـه لـور مـزل کومـه
پــه نيمــه شــپه کــې د جانــان ســره يــو ځــای شــمه زه
پـه سـپين سبا کې د خپـل ځان سره يـو ځـای شمه زه.

۱۳۸۵/۰۸/۲۸

## ځينې ملګري عجيبه کره کتنه کوي (۱)

(۱)

پــه لېــوني مــزاج راپورتــه شــي شــننه کــوي
ځينـــې ملګـــري عجيبـــه کـــره کتنـــه کـــوي

لکـه کارغـه، د "غوښـه" غـړنـه يـې وېرېږمـه ډېـر
د کـور پـر سـر مـې راتېرېږي ځـان ښـودنه کـوي

لا يــې ســېنه راباـنـدې يخــه پــه ژونـديو نــه ده
اوس مــو د مــړو نوبــت راغلــی مړوژنــه کــوي

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورې غسې غوندې راشي په تياره، تياره کې
په توره شپه کې د "خوشال" د هډ ويستنه کوي

نه مو غمخور شته نه مو کوم سړی پوښتنه کوي
ځينې ملګري عجيبه کره کتنه کوي.

(۱): يو وخت د الفت مجلې په (تله) برخه کې دځينو ليکوالو هڅه دا وه، چې د خوشال بابا(رح) نسب مغل ثابت کړي او ځينو نورو يې بيا په ځواب کې د طنز په ډول د رحمان بابا(رح) نسب عرب ښودلو نو د هغو ليکنو له لوستو وروسته دا نظم ليکل شوی.

## (۲)

قلم راواخلي پر کاغذ باندې ليکل شروع کړي
پر دغه توره د ليکوالو قتلول شروع کړي

د زهرو غشي د شربت په رنګ کې رنګ کړي ورته
د کاذبانو لېنده وکاږي ويشتل شروع کړي

د باباګانو شاعرانو له نسبه منکر
لکه لمانځه کې چې سندرې او غزل شروع کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سپین لباس کې د تحقیق وي په تکذیب کې مصروف
لکــه پــردی مُــلا پــه دیــن کــې لاســو هنه کــوي

د خــدای(ج) پــه ورانــدې ښــه پــوره ســرغړونه کــوي
ځینــــې ملکــــري عجیبــــه کــــره کتنــــه کــــوي.

(۳)

لــه لــرې لــرې نــه نقــاد راپســې کــور تــه راغــی
لکــه غمونــه او فریــاد راپســې کــور تــه راغــی

کــه لــه اســمانه مرســته راشــي گنــي نشــته چــاره
شــیطان غمــاز رقیــب ناښــاد راپســې کــور تــه راغــی

د خپلــواکۍ فکــر مــو آن راتــه پــه ســرکې وژنــي
ســالار د ظلــم اســتبداد راپســې کــور تــه راغــی

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل تحقیق سره یې ځان کړلو د نورو حساب
د بل په رنګ د بل په بڼه کې ښېرنه کوي

دغه مسرۍ ورته ساده له سوي زړه نه کوي
ځینې ملګري عجیبه کره کتنه کوي.

حیدرآباد/خوست
۱۳۸۲/۰۲/۱۹

# انسان
# او
# قانون

له اوله چې انسان دی پیدا شوی
له اوله په یو شان دی پیدا شوی
د انسان د شان لپاره په یو شان کې
د قانون تشه راغلې په انسان کې
د دې تشې ډکونه په اقرار شي
په اقرار شي په ګفتار او په کردار شي
په اقرار او په ګفتار کې بریالی دی

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرق يې نشته که څوک ښځه که سړی دی
خو ملاماتی په کردار کې پاتې شوی
د ژوندون په دغه چار کې پاتې شوی
په دې لړ کې يو قانون د يو پاچا و
يو پاچا داسې پاچا چې د هر چا و
د انسان د ځناورو د پريانو
د اوبو و د هوا او د مرغانو

د هر چا حبصه مالومه په قانون کې
پابندي ورباندې نه وه په ژوندون کې
په هوا به تخت روان د دې پاچا و
که زمان و که مکان د دې پاچا و
په څه شان به له خپل ربه پوهېدلو
د هر څه سره په ژبه پوهېدلو
په خپل ځان يې هم قانون و پلی کړی
په دې شان يې ټول ژوندون و ښکلی کړی
د هر چا لاره مالومه په قانون کې
څه مشکل به چېرته نه و په ژوندون کې
په قانون کې د ښکاري سړي لپاره
وو راغلي، که کوله يې دا چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکاري په نوم جامې به يې په تن وي
د ښکارزنو علامې به يې په تن وي
په قانون کې وې د ښکار جامې مالومې
په يو رنګ د دغې کار جامې مالومې
چې ښکاري سړی ښکاري سړی ښاروي ته معلوم وي
چې ښکاري سړی مرغيو ته معلوم وي

خو ښکاري به چې د ښکار جامو کې ووت
په خپل کار پسې د کار جامو کې ووت
تر ماښامه به يې لشکي ښکار وکړی
له ناکامه به يې لشکي ښکار وکړی
څه وخت وروسته يې د ښکار جامې کړې تويې
په دې شان يې د وقار جامې کړې تويې
پس له دې به په عادي جامو کې تللو
په تګی به يې پريمانه ښکار کولو
خو په ښکار کې به يې هيڅ برکت نه و
په دا کار کې به يې هيڅ برکت نه و
انسانيت يې په دې کار سره معدوم شو
د فطرت د محکمې لخوا محکوم شو
که لږ فکر د انسان په اړه وکړې
او حساب يې د تاوان په اړه وکړې

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه جنــت کــې چــې آدم(ع) و خطــا شــوی
لــه قانونــه ښــه مخکــم و خطــا شــوی
لــه قانونــه چــې آدم(ع) کلــه خطــا شــو
لــه آرامــه لــه ســکونه هــم وريــا شــو.

۱۳۹۱/۰۱/۱۹
حيدرآباد

## ولسمشر ته

زه ولــس يــم تــه مــو مشــر د هېــواد يــې
زه پــه خدای(ج) خــو تــه پــه مابانــدې آبــاد يــې
تــه کــه ښــکلی يــې خــو ښــکلی پــه ولــس يــې
گنــې پرتــه لــه ولســه خــو يــو کــس يــې
تــه کــه نــه وې خــو ولــس بــه خامخــا وي
چــې مــو مشــر شــې يــو کــس بــه خامخــا وي
پــه ولــس کــې لــه ولســه ولسمشــر
وي خبــر لــه خپــل ولســه ولسمشــر
چــې خبــر وي لــه ولســه خــو پاچــا وي
پــه ولــس کــې لــه ولســه د هــر چــا وي
تــه خبــر يــې او کــه نــه يــې راتــه وايــه
کــه خبــر يــې نــو خبــر يــې تــر کــوم ځايــه
کــه خبــر يــې نــو بيــا ولــې داســې گونــگ يــې؟
د ولــس لــه خدمتونــو نــه پــه ځنــگ يــې!

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خبر نه یې نو غوږ شه چې خبر شې
په خدمت کې د ولس به معتبر شې

په ولس دې ده وبا د لوړې ګډه
ته یې نه وینې؟ بلا د لوړې ګډه!
یو سړی چې یې بچی له لوږې خرڅ کړو
په دې شان یې خپل زړګی له لوږې خرڅ کړو
په ولس دې ناروغۍ دي ګډې شوې
څو بلاوې لېونۍ دي ګډې شوې
دا بلاوې زموږ لور ته هم راغلې
زموږ کلي زموږ کور ته هم راغلې
په هېواد کې چې علاج د بلا نه و
په سهي مانا کې جاج د بلا نه و
نو مجبور شولو چې لاړ شو پېښور ته
هلته کېنو یو ښاغلي شان ډاکټر ته
چې تر ګرمې پورې لاړو سراچه کې
زړه مې خړ شو له ګردو نه په سینه کې
بیا نو هلته فلنګ کوچ ته شوو ورپورته
د پولیسو قلنګ کوچ ته شوو ورپورته

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــو و روان پــه گور گــوری ځــو تــر کوهاټــه
پــــه دُعـــــا او پــــه زاری ځـــو تـــر کوهاټـــه

لــه کوهاټــه چــې روان شــو و نظــامپور تــه
د رنځونـــو بـــلا کلکـــه شـــوه رنځـــور تـــه
ځای پـه ځـای مـو پیسـې ورکړې هـر پټـک تـه
چــې مانښـام شـو نـږدې شـوې وو اټـک تـه
لـــه اټکـــه د نوښـــار پـــه لـــور روان شـــو
بــې حســابه پــه دې لاره کــې ســتومان شــو
ماخوســـتن چـــې پېښـــور تـــه شـــوو دننـــه
پـه ځـان پـوی نـه شـوو چـې چرتـه شـوو دننـه
تــه خبــر یــې او کــه نــه یــې ولسمشــره؟
چـې تـه وینې یـې کـه ویـده یـې ولسمشـره!
د خوشـال(رح) او د رحمـان بابـا(رح) پـه کـورکې
لکـــه مـــړي د هنـــدوانو پـــه ســـره اورکـــې
پـــټ پـــه پټـــه گرځېـــدلو پېښـــور کـــې
ځـای پـر ځـای یـې شـوکولو پېښـور کـې.

۱۳۹۰/۱۰/۰۴
دوشنبه
حیات آباد کمپلېکس روغتون/ پېښور.

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدولي جان مقبول مې د تنکۍ ځوانۍ وختتونو ملګری و. ډېر درونـد او د ځـانګړي استعداد لرونکی ځوان، شاعر او د میرانشاه له ګورنمنټ های سکول څخه یې د بري سند ترلاسه کړی و.

شعر یې روماني خو یو نیم بیت یې حماسي رنګ هم لري. په اصل کې د پکتیا د سید کرم او سیدونکی و. مګر لاترا وسه د میرانشاه په درګې منډیي کې اوسېدل.

له بده مرغه د روژې مبارکې په نه ویشتمه د پلار له خولې خبر شوم چې مقبول سهار مهال په میرانشاه بازار کې د خپل دوکان دروازه خلاصوله خو دروازه شارټ یا بربښنا شوې وه نو دی یې ونیو او په همغه ځای کې یې ساه ورکړه، الله دې رحم ورباندې وکړي، امین.

غم او درد یې لاندې مرثیه راباندې وویله.

## مقبول ځوانیمرګ ته !

چــې خبــر شــو مه لـــه پــلاره پـــه دې پېښـــه
زړه دې ســم رانـــه بهــر کـــړو د مـــرګ نېښـــه
یـــا رمـــې ومـــړ د بربښـــنا لـــه ســختـه بربښـــه
تـــه پـــرې ورشـــه د ســـبا بـــاده الو ېښـــه.

☆ ☆ ☆

لـــه همزولـــو نـــه یـــې دنګـــه ځـــواني لاړه
پـــه رنګونـــو کـــې اوبرنګـــه ځـــواني لاړه
تـــوره ســـپینه غنمرنګـــه ځـــواني لاړه

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر افسوس دی څنګه ځواني لاړه.

د خويونو له امله چې سلطان و
زماني ته د رڼو اوبو وجدان و
هم د کور و هم د کلي هم د ځان و
د ملګرو په ټولي کې به روان و.

☆ ☆ ☆

اوس به لرې له ملګرو نه د ېره وي
د ملګرو اند ښنه به ورسره وي
څوک به څه وکړي چې وخت د چا پوره وي
خدای(ج) دې وکړي چې د خولې خوند يې بوره وي.

☆ ☆ ☆

تېرېدنه له نړۍ نه يو معمول دی
څوک به پاتې شي؟ چې تلی ترې رسول(ص) دی
مرګ راغلی په دنيا کې خود شمول دی
بريالی به هغه څوک وي چې مقبول دی.

۱۳۹۱/۰۵/۲۷
نه ويشتمه روژه/ خوست ښار

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هر وخت د کلي ننداره کومه

د کلـــي خلــک مــې پوښـــنه کـــوي
وایــي چــې کـوم طـرف تــه تلـی سـړی
زمـــوږ لـــه لارې نـــه بـــې لارې دی اوس
زمـــوږ د کلـــي دا ښـــاغلی ســـړی

☆ ☆ ☆

د کلـــي خلــک مــې پوښـــتنه کـــوي
وایــي چــې څــه شـو دا پــه کومــه لاړو
معلومـــــه لاره یـــــې راپرېښـــــودله
پـــــه تپـــــه تـــــوره نامعلومـــــه لاړو

☆ ☆ ☆

د کلـــي خلــک مــې پوښـــتنه کـــوي
وایــي چــې څنگــه د پــردو شــو رانــه
زمـوږ کیسـې یـې هېـرې کـړې دي اوس
د نــورو نــورو پــه کیســو شــو رانــه

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلـــي خلـــک مـــې پوښـــتنه کـــوي
پوښـــتنه ښـــه ده چـــې ثـــواب دی پکـــې
خـــو زه پـــه دې کلـــي کـــې څـــه وکړمـــه
چـې ژونـد کـول ګـوره غـذاب دی پکـې

☆ ☆ ☆

د کلـــي خلـــک مـــې پوښـــتنه کـــوي
خـــو تـــه خبـــر يـــې چـــې دا ښـــکلی کلـــی
پـــه کومـــه لاره چـــې مزلونـــه کـــوي
پـــه کومـــه لاره چـــې وتلـــی کلـــی

☆ ☆ ☆

پـــه دغـــه لاره يـــې ازغـــي کرلـــي
پـــه دغـــه لاره کـــې بمونـــه ښـــخ دي
پـــه دغـــه لاره کـــې ښيښـــې ښـــيندلې
پـــه دغـــه لاره کـــې ســـرونه ښـــخ دي

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه لاره کې ابليس ولاړ دی
په دغه لاره کې لښکرې د ده
په دغه لاره کې نيستې ولاړه
په دغه لاره کې کوډګرې د ده

☆ ☆ ☆

په دغه لاره کې رنځونه د زړه
يا به کينه يا به ريا وي د چا
يا په ګمان او يا په بخل ککړ
خو داسې نه چې ملريا وي د چا

☆ ☆ ☆

په دغه لاره بلاګانې راځي
پر چا وي مېډېن پاکستان ليکلی
پر چا ابساف په غټو ټکو
تش پر تندي يې وي انسان ليکلی

☆ ☆ ☆

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلـــي خلــک مـــې پوښـــتنه کــوي
وايــي چــې لــرې لــه مــوږ تلــی تلــی
پــه دغــه چــم کــې دلتــه نشــته ســړی
لـــه نـــرخ او کلـــي نـــه وتلـــی تلـــی

☆ ☆ ☆

د کلـــي خلکـــو تـــه بـــه تلـــی ښـــکارم
خو زه د خړې غونډۍ سر کې ناست یم
هـــر وخـــت د کلـــي ننـــداره کومـــه
د لوړې لوړې غونډۍ سر کې ناست یم.

۱۳۹۱/۰۲/۰۱
کوچني اختر
حیدرآباد/ خوست

## عقیده

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهابي:

بې لـه دې چې محمـد(ص) د خدای(ج) بنده دی
بـل يـو فکـر پـه دې برخـه کـې ګنـده دی

محمـد(ص) چـې و ژونـدی خـو پيغمبـر و !
نورانيـت بـه پکـې ځـه وي؟ چـې بشـر و !

محمـد(ص) راتـه راوړی يـو قـرآن دی
لـه دې پرتـه خـو زمـوږ پـه څېـر انسـان دی

شـرک روان پـر مقبـره د محمـد(ص) دی
چـا جـوړ کـړی بـې جـوازه پـرې ګنبـد دی

بـل پـه ديـن کـې مـذاهبو تـه ځـای نـه شـته
واسطه هم بې لـه خدايـه د خدای(ج) نـه شـته.

بريلي:

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمـــد(ص) چـــې زمـــا روح دی زمـــا ځـــان دی
محمـــد(ص) لـــه خپلـــه ځانـــه پرمـــا ګـــران دی

محمـــد(ص) پـــه دې نـــړۍ کـــې هـــم ګرځېـــږي
د لمانځـــه پـــه مختـــه صـــف کـــې حاضـــرېږي

محمـــد(ص) لـــه پرېښـــتو نـــه چـــې بهتـــر دی
بيـــا خـــو خـــود پـــه ګرځېـــدلو مقـــدر دی

محمد(ص) د خدای(ج) ولي د خدای(ج) نبي دی
محمـــد(ص) کـــه پـــه ځېـــره کـــې د ســـړي دی

خـــو د خـــدای(ج) پـــه عـــادتونو مهـــذب دی
محمـــد(ص) پـــه حقيقـــت کـــې لکـــه رب دی.

صوفي:

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد^(ص) د خدای^(ج) له نوره پیدا شوی
محمد^(ص) د خدای^(ج) په نور دی صفا شوی

محمد^(ص) په حقیقت کې د خدای^(ج) نور دی
خو تعریف د دغې ټکي ډېر مستور دی

محمد^(ص) خیرالبشر دی پیغمبر دی
محمد^(ص) مې د زړه سر دی پیغمبر دی

محمد^(ص) چې مقتدا دی د نبیانو
مجتبي دی مجتبي دی د ولیانو

امتي د محمد^(ص)، بنده د حق یم
بس چې حق یمه خو حق یمه چې حق یم.

ولس:

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه مــې پوهــه نــه مــې عقــل دومــره ډېــر دی
نــــه مـــې ذهـــن رســـيدل زور پـــه زېـــر دی

يو مې خدای(ج) يو مې کتاب يو مې رسول و
هــــر يـــو کـــار مـــې د مقبـــول نبـــي قبـــول و

خـــــو د مصـــــر وهابيـــــانو وهـــــابي کــــړم
د عــــراق صـــوفي پـــه يـــو نظـــر صـــوفي کــړم

بـــــل د بريلـــــي پاکســــتان پـــــه لاره لاړم
اوس پــــه چيغـــو چيغـــو ژاړم لاره غـــواړم

نـــه د ديـــن نـــه د دنيـــا نـــه د مـــولا شـــوم
يـــو صـــورت وم خـــو جـــدا جـــدا جـــدا شـــوم.

۱۳۹۲/۰۵/۱۳
۲۷پېشنمی
حيدرآباد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com - د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**